# د افغانستان په توقیف خونو کې د جګړې اړوند توقیفیانو سره د چلند په هکله نوی راپور: حساب ورکونه اود ولسمشر ۱۲۹ ګڼه فرمان تطبیق

**دافغانستان لپاره دملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی**

**د بشري حقونو لپاره دملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ دفتر**

فبروري ،۲۰۱۵ کال

کابل ، افغانستان

# فهرست


دیوناما ماموریت......3
د ځیرنې میتود (څیړندود)......5
لومړۍ نقشه: د توقیف ۱۲۸ ځایونه چې یوناما لیدلي دي......12
د راپور لنډیز......13
مهمې سپارښتنې......36

## دیوناما ماموریت

د ۲۰۰۴ کال راپدیخوا د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په افغانستان کې د ملګروملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) ته دنده سپارلې چې د یو عادلانه او روڼ عدلي سیستم رامنځته کولو ملاتړ وکړي او دقانون د حاکمیت د قوي کولو له پاره کار وکړي. یوناما د بشري حقونو ځانګه هم لري چې په ټول هیواد کې ساحوي کارمندان لري او د بشري حقونو لپاره دملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ دفتر ورسره تخنیکي مرستې کوي.

د ملګروملتونو د امنیت شورا یوناما ته دنده سپارلې چې په عدلي سیستم او زندانونو کې بشري حقونو ته درناوی کې نور هم ښه والی راولي. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۲۰۹۶( ۲۰۱۳) او ۲۱۴۵( ۲۰۱۴)[1] پریکړه لیکونو کې د یوناما کار او د توقیف په هکله راپورونو ته ځانګړې پاملرنه کړې ده او د افغانستان د حکومت لخوا د توقیف په اړوند جوړ شوی د ۲۰۱۳ کال کمیسیون یې تایید کړی:

*۳۸- یو ځل بیا ددې په اهمیت تاکید کوي چې د ټولو اړونده ارګانونو او نورو فعالینو په واسطه "د ټولو لپاره د عدالت او قانون د ملي لومړیتوبونو پروګرام" د یو روڼ او روښانه عدلي سیستم د رامینځته کولو او د معافیت له منځه وړلو په نظر کې نیولو سره په ټول افغانستان کې د قانون حاکمیت باندې تاکید کې مرسته کولای شي.*

*۳۹- د قانون حاکمیت او بشري حقونو ته د درناوي په موخه په فغانستان کې د زندانونو د سکتور بیارغونه او اصلاح کې لا نور ډیر پرمختګ باندې تاکید کوي چې د قانون حاکمیت او بشري حقونو ته په کې ښه درناوی وشي او په افغانستان کې ټولو زندانونو او توقیف خونو ته د اړونده ادارو د لاس رسي دتأمین پر اهمیت تاکید کوي. او غوښتنه کوي چې د اړونده نړیوالو قوانینو په شمول د بشري حقونو او بشر دوستانه قوانینو ته پوره درناوي وشي، دیوناما د ۲۰۱۳ کال د ۲۰مې جنورۍ راپور سپارښتنې او ددې راپور د موندنو د څیړلو په موخه د افغانستان د حکومت له خوا په ګمارل شوي کمیسیون باندې تاکید کوي.*

## شالید

یوناما د افغانستان د زندانونو او توقیف خونو کې د توقیفیانو او زندانیانو وضعیت د ډیرې مودې راهیسې څارلې دی. له ۲۰۰۶ کال څخه تر ۲۰۰۹ کال پورې یوناما د "خپل سري توقیف د تصدیق کمپاین" پیل کړ چې په پایله کې یې د قانوني اجراااتو او د افغانستان په توقیف خونو کې د جنایي توقیفیانو سره د چلند په هکله په دو جلدونو کې راپورونه خپاره کړي چې په ۲۰۰۹ کال کې چاپ شول.

د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر په میاشت کې د ملي امنیت عمومي ریاست او د کورنیو چارو وزارت په مرسته، یوناما د افغانستان په توقیف خونو کې دجګړې اړوند توقیفیانو د څارنې اوسنی لړۍ بیا پیل کړه[2]. ددې پروګرام اصلي موخه د ملي امنیت

[1] دملګرو ملتونو امنیتي شورا پریکړه لیک (2013) 2096, S/Res/2096 چې په ۲۹ مارچ ۲۰۱۳ او پریکړه لیک (2014) S/Res/2145 چې د ۱۷ مارچ ۲۰۱۴ باندې تصویب شول.

[2] د ولسوالي جګړې اړوند جرمونو باندې تورن توقیفیانوباندې عموماً دولت په ضد جرمونو تورونه پرې لګیدلي چې چې د جزا قانون(۱۳۵۵ کال)، د دیموکراتیک جمهوري افغانستان پر ضد د داخلي او خارجي جرمونه(۱۳۶۶ کال) او یا د تروریستي جرمونو سره د مبارزې قانون (۱۳۸۷ کال) کې تصویب شوي دي. ډیر توقیفیان چې یوناما ورسره مرکې له دې خبر نه وو او نه ورته ویل شوي وو چې په کوم مشخص جرم باندې تورن شوي دي او دوي عموماً خپل جرمونه له طالبانو سره ملاتړ او یا د طالبانو په وسله وال مخالفت کې لاس لرنه وښودله.

رياست او د افغان ملي پوليسو د توقيف خونې وې  چې په پايله کې يې دوه عام راپورونه خپاره شول چې لومړی يې په اکتوبر ۲۰۱۱ کې او بل يې په جنوری ۲۰۱۳ کې نشر شول.[3]

## دافغانستان په توقيف خونو کې د جګړې اړوند توقيفيانو سره  چلند: له ۲۰۱۱ څخه تر ۲۰۱۳ پورې

 د توقيفيانو سره د چلند په هکله د يوناما دوو پخواني راپورونو موندنې ښيې چې قانع کونکي ثبتونه په ګوته کوي چې دجګړې اړوند توقيفيان د تحقيق په وخت کې د ملي امنيت او د افغان ملي پوليسو په توقيف خونو کې له شکنجو او ناوړه چلند سره مخامخ وو.

**د يوناما د اکتوبر ۲۰۱۱ راپور** (چې د اکتوبر ۲۰۱۰ نه تر سيپټمبر ۲۰۱۱ پورې موده رانغاړي) په ګوته کوي چې ۲۷۳ توقيفيان  چې مرکې ورسره شوې وې ، کابو نيم يې هغه توقيفيان وو چې د ملي امنيت توقيف خونو کې توقيف شوي وو او  د ۱۷۷ له جملې څخه دريمه برخه هغه توقيفيان وو چې دملي پوليسو توقيف خونو کې توقيف شوي وو ، دوي د تحقيق له داسې طريقو سره مخ شوي وو چې د شکنجې ، ظالمانه ، غيرانساني او يا تحقير کوونکي چلند نړيوال تعريف ته ورته دی. د يوناما موندنې ښيي  چې د ملی امنيت او د ملي پوليسو د هغو مامورينو نه هيڅ پوښتنه نه ده شوې کومو چې شکنجې کارولې او يايې ناوړه چلند کړی. ددوي په خلاف د شکنجې اړوند د ادعاګانو پلټنې د ننه پاتې شوي دي او د دوي عدلي تعقيب ډېر کم تعقيب شوی دی. يوناما افغان چارواکو او اړونده اداراتو په شمول نړيوالو څواکونو ته ۲۵ سپارښتنې کړې وې ، چې موخه يې د شکنجې او خپل سري توقيفيونه له منځه وړل و.

**يوناما په خپل د  ۲۰۱۳ کال د جنوری راپور کې** (چې د اکتوبر ۲۰۱۱ نه تر ۲۰۱۲ پورې مودې په باره کې دی) جوتوي چې د افغانستان حکومت او د هغه نړيوالو همکارانو د پام وړ هلو ځلو سره سره چې د جګړې اړوند توقيفيانو سره شکنجه او ناوړه چلند له منځه وړلو له پاره يې کړې وې ، شکنجه بيا هم موجوده وه او د افغانستان په ډېرو توقيف خونو کې شکنجه د يوې لوې اندېښنې په ډول پاتې شوه.  يوناما دا مني چې شکنجه د حکومت کړنلاره نه ده ، خو د يوناما موندنې ښيي چې ۶۳۵ د جګړې اړوند توقيفيانو له نيمايي ډېر يې چې يوناما ورسره مرکې کړې وې ، شکنجه شوي وو په تيره بيا د ملی امنيت او افغان ملي پوليسو په ۳۴ توقيف خونو کې. د  ملي امنيت د توقيف په دوو ځايونو او د افغان ملي پوليسو په اووه ځايونو کې په سيستماتيک ډول له شکنجې څخه کار اخيستل شوی وو[4]. د شکنجې اوناوړه چلند له څوارلس ډولونو څخه د اعتراف او مالوماتو اخيستلو له پاره کار اخيستل شوي وو. دا څوارلس ډولونه دا وار هم  په هغه شان بيان شوي وو لکه څرنګه چې يوناما پخوا مستند کړي وو.

د يوناما راپور دې نتيجې ته ورسيد چې شکنجه يوازې د پلټنې او ترينينګونو له لارې په اغيزمن ډول له منځه نه وړل کيږي او دا ضروري ده چې له مرتکبينو څخه پوښتنه وشي او محکمې په دې طريقو په زوره اخيستل شوی اعتراف رد کړي. يوناما د افغانستان حکومت او  د حکومت نړيوالو همکارانو ته ۶۴ سپارښتنې وکړې چې داسې هراخيز اقدامات هم په کې شامل وو چې د شکنجې مرتکبين بايد ځواب ووايي او قانوني اجراات بايد ټينګ شي چې په راتلونکي کې  د شکنجې او ناوړه چلند مخه ونيسي.

---

[3] يوناما او د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونوعالي کميشنرۍ دفتر راپورونه: ***د افغانستان په توقيف ځايونو کې د منازعې اړوند توقيفيانو سره چلند*** (اکتوبر ۲۰۱۱) او : ***د افغانستان په توقيف ځايونو کې د منازعې اړوند توقيفيانو سره چلند: يو کال وروسته*** (جنورۍ ۲۰۱۳ )، چې په دې پته يې کتلی شی: http://unama.unmissions.org/Default.aspx?tabid=12261&language=en-US

[4] د ملي امنيت عمومي رياست په کابل کې ۱۲۴ رياست او په کندهار کې د ملي امنيت د توقيف خونه ، په کندهار کې د افغان ملي پوليسو د توقيف خونه او د په کندهار کې افغان ملي پوليسو دريمه ، اتمه ، ديارلسمه او ۱۵ حوزې  او د کندهار ولايت په پنج وای او سپين بولدک ولسواليو کې د افغان ملي پوليسو د توقيف خونې.

## د ځيرنې ميتود (ځيړندود[5])

### لاس رسی

د يوناما دا اوسنی راپور د جګړې اړوند توقيف نظارت موندنې د ۲۰۱۳ کال د فبرورۍ لومړۍ نيټې څخه د ۲۰۱۴ کال د ۳۱ م ديسمبر د مودې په باره کې دی. د افغان ملي پوليسو ، افغان ملي سرحدي پوليسو ، د ملي امنيت رياست ، د کورنيو چارو وزارت دولتي مامورينو او نورو حکومتي ادارو يوناما سره په ټول افغانستان کې د توقيف خونوکې د توقيفيانو په ليدلو کې مرسته کړې ده. د افغان ملي پوليس او د ملي امنيت ځينې مامورين په ځينو سيمو کې يوناما ته د ځانګړيو توقيف خونو ته د ورتګ د حق ورکولو په هکله زړه نازره وه ، خو دا انديښنې په کابل کې ملي امنيت عمومي رياست حقوقي مشاور اود ملي امنيت عمومي رياست ( ۴۷ رياست) د بشري حقونو مشر ، د توقيف خونو د سيمه ييزو مديرانو او امنيه قومندانانو له خوا حل شوې.

### بيلګه

يوناما د ۲۰۱۳ کال د فبرورۍ له لومړۍ نيټې څخه د ۲۰۱۴ کال د ديسمبر مياشتې تر ۳۱ مه پورې ۷۹۰ توقيفيانو او محکومينو سره په ناټاکلي ډول مرکې وکړې چې د ملي امنيت رياست ، د افغان ملي پوليسو ، سرحدي پوليسو ، ملي اردو او افغان سيمه ييزو پوليسو له خوا نيول شوي وو. توقيفيانو سره د ملي پوليسو د ولايت او د ولسواليو په توقيف خونو ، د ملي امنيت ولايتي مرکزونو په توقيف خونو ، د محابسو مرکزي رياست او د ماشومانو د اصلاح او تربيت په مرکزونو کې مرکې وشوې. يوناما د افغانستان په ۲۸ ولايتونو کې د ۱۲۸ توقيف ځايونو څخه ليدنه وکړه[6]. په راپور کې لومړۍ نقشه هغه توقيف ځايونه ښيي چې يوناما په پورتنۍ موده کې ورنه ليدنه کړې ده.

---

[5]

[6] په ولايتونو کې دملي امنيت هغه توقيف ځايونه چې يوناما يې نظارت کړی: فيض اباد(بدخشان)، قلعه نو(بادغيس)، پلخمری(بغلان)، مزار(بلخ)، باميانوښار(باميان)، نيلی(ډايکندی)، فراه ښار(فراه)، ميمنه (فارياب)، چخچران (غور)، لښکرګاه (هلمند)، هرات ښار(هرات)، شبرغان(جوزجان)، کابل (۱ ، ۴۰ او ۱۲۴ رياستونه)، کندهار ښار(کندهار)، محمودراقی(کاپيسا)، دخوست ښار (خوست)، اسدآباد(کنړ)، کندزښار(کندز)، مهترلام(لغمان)، پل عالم (لوګر)، جلال اباد(ننګرهار)، شرنه(پکتيکا)، ګرديز(پکتيا)، تالقان(تخار) او ميدان ښار (وردګ).

د افغان ملي پوليسو په ولايتونو او ولسواليو کې د توقيف خونې چې يوناما ترې نظارت کړی:

فيض آباد ښار او د ملي پوليسود ارګو ، اشکامش ، شغنان او بهارک ولسواليو کې د توقيف خونې (بدخشان)، قلعه نو (بادغيس)، د ملي پوليسو د توقيف خونه پلخمری او دملي پوليسوپه دوشي او خنجان ولسواليو کې د توقيف خونې (بغلان)، مزار ، اود خلم ، چمتال ، شولګره او دولت آباد ولسوالۍ (بلخ)، )، باميان ښار او د يکاولنګ ولسوالي (باميان)، نيلی(دايکندی)، فراه ښار(فراه)، ميمنه او خان چهارباغ ،دولت آباد او پشتون کوټ ، اندخوی ، شرين تګاب اود قرمقل ولسوالۍ (فارياب)،لښکرګاه(هلمند)، دهرات مرکزاود ادرسکن ،انجيل ،کاروخ ،کوهسان ،غوريان ، ګذره او زنده جان ولسوالۍ (هرات)، )، شبرغان ښار او آقچه او د خواجه دکو ولسوالۍ (جوزجان)،د کندهار مرکز او د ارغنداب ولسوالي (کندهار)، خوست ښار (خوست)، کندزښار او د امام صاحب او علي آباد ولسوالۍ (کندز)، مهترلام(لغمان)، جلال آباد(ننګرهار)، زرنج (نيمروز)، شرنه (پکتيکا)، د ګرديز ښار (پکتيا) او د تالقان ښار (تخار).

خوست(خوست)، اسدآباد (کنړ)، کندز ښار(کندز)، مهترلام(لغمان)، جلال آباد(ننګرهار)، شرنه (پکتيکا)، ګرديز(پکتيا)، چهاريکار(پروان)، تالقان(تخار)، قلات (زابل).

دزندانونو عمومی رياست اړوند زندانونه چې د يوناما لخوا يې نظارت شوی دی:

فيض آباد(بدخشان)، قلعه نو(باغيس)، پلخمری (بغلان)، مزار(بلخ)، باميان ښار(باميان)، نيلی(دايکندی)، فراه ښار(فراه)، ميمنه(فارياب)، چغچران(غور)، هرات ښار(هرات)، شبرغان (جوزجان)، پلچرخی(کابل)، سرپوزه (قندهار)، محمود راقی (کاپيسا)، خوست(خوست)، اسدآباد (کنړ)، کندزښار(کندز)، مهترلام(لغمان)، جلال آباد(ننګرهار)، شرنه (پکتيکا)، ګرديز(پکتيا)، چهاريکار(پروان)، تالقان(تخار)، قلات (زابل). دماشومانو اصلاح اوتربيی مرکزونه چې يوناما نظارت کړی: فيض آباد(بدخشان)، قلعه نو(باغيس)، پلخمری (بغلان )، فراه ښار(فراه)، هرات ښار(هرات )، کابل(کابل)، کندهار ښار (قندهار)، محمود راقی (کاپيسا)، خوست(خوست)، کندزښار(کندز)، مهترلام(لغمان)، پل علم (لوګر)، لشکرګاه (هلمند)، جلال آباد(ننګرهار)، شرنه (پکتيکا)، تالقان(تخار)، قلات (زابل).

دمحابسو عمومی رياست اړوند محابس چې يوناما لخوا نظارت شوی: فيض آباد(بدخشان)، قلعه نو(باغيس)، پلخمری (بغلان)، مزار(بلخ)، باميان ښار(باميان)، نيلی(دايکندی)، فراه ښار(فراه)، ميمنه(فارياب)، چغچران(غور)، لښکرګاه (هلمند)، هرات ښار(هرات)، شبرغان (جوزجان)، پلچرخی(کابل)، سرپوزه (کندهار)، محمود راقی (کاپيسا)، خوست(خوست)، اسدآباد (کنړ)، کندزښار(کندز)، مهترلام(لغمان)، پل عالم (لوګر)، جلال آباد(ننګرهار)، شرنه (پکتيکا)، ګرديز(پکتيا)، ايبک (سمنګان ، تالقان(تخار) او ميدان ښار (وردګ).

د توقیف په دې ځایونو کې یوناما د توقیف له مامورینو او نورو اړونده دولتي چارواکو سره ولیدل ، د هرتوقیف ځای ځینې برخې یې ولیدلې او د توقیفیانو د ثبت راجسترونه یې هم ولیدل. له ۷۹۰ توقیفیانو څخه چې یوناما ورسره مرکې کړې وې ، ۷۵۵ یې د وسله والې جګړې اړوند جرمونو باندې محکوم او یا تورن شوي وو او پاتې نور ۳۵ یې په جنایي جرمونو محکوم او یا تورن شوي وو .[7]

له ۷۹۰ توقیفیانو سره د یوناما مرکې د ملي امنیت ، د افغان ملي پولیسو ، سرحدي پولیسو ، افغان ملي اردو سیمه ییزو پولیسو او یا د نړیوالو ځواکونو او د نورو چارواکو لخوا د توقیفیانو د نیولو ، تحقیق او پلټنې په وخت له دوي سره چلند باندې متمرکزې وې. له هر یو توقیفي سره چې مرکه شوې له هغه نه دا پوښتل شوي چې هغه سره د نیولو او د تحقیق په وخت په هرتوقیف ځای کې څرنګه چلند شوی دی. په دې بیلګو کې ۲۲۱ توقیف ځایونه شامل دي چیرته چې له ۷۹۰ توقیفیانو سره د دوي د توقیف په موده کې مرکې شوې وې .[8]

د افغانستان د حکومت د توقیفیانو د قانوني اجرااتو اطاعت چې د افغان قوانینو او د بشر د حقونو د نړیوالو قوانینو په رڼا کې یو مکلفیت دي ، د یوناما لخوا وڅارل شو.

د ۷۹۰ توقیفیانو له جملې څخه ، ۶۱۱ یې د ملی امنیت ریاست او یا د دې ریاست کارمندانو لخوا د توقیف په یوه نه یوه مرحله کې ، ۳۰۲ یې د افغان ملي پولیسو او یا سرحدي پولیسو یا د ملي اردو توقیف ځایونو ، ۶۰ یې د ملي اردو ، ۵۴ یې د افغان سیمه ییزو پولیسو په توقیف خونو کې ساتل شوي وو ، او ۵۴ یې د نړیوالو ځواکونو له خوا او یا بهرنیو استخبارتي ادارو له خوا په یوازې ډول او یا افغان امنیتي ځواکونو سره ګډ ساتل شوي او بیا د ملي امنیت ریاست ، افغان ملي پولیس او یا افغان ملي اردوته د توقیف له پاره لیږل شوي وو. د ملي امنیت ریاست او د افغان ملي پولیسو او یا افغان ملي سرحدي پولیسو ۱۶۷ توقیفیان دواړو (ملي امنیت او پولیسو) په بیلو بیلو وختونو کې توقیف کړې وو.

یوناما له ۷۹۰ توقیفیانو سره مرکې کړې چې د دوي له جملې څخه ۳۹۹ د ملي امنیت لخوا ، ۲۰۷ یې د ملي /سرحدي پولیسو لخوا ، ۳۶ یې د افغان ملي اردو لخوا ، ۹۹ یې د نورو لخوا (افغان سیمه ییزو پولیسو او نورو امنیتي ځواکونو لخوا) نیول شوي وو. دولس توقیفیان چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو لخوا نیول شوي وو ، و نه توانیدل چې په ګوته کړي چې کوم امنیتي ځواک نیولي دي او ۷۱ نور یې د نړیوالو ځواکونو لخوا ( چې په یوازې ډول او یا یې افغان ملي امنیتي ځواکونو او یا کمپاین له ځواکونو سره په ګډه عملیاتو کې) نیول شوي وو. د ۷۹۰ توقیفانو له جملې څخه یو توقیفي ونه شو کړای چې په کره توګه ووایي چې د چا او د کومې ادارې لخوا نیول شوی و.

دماشومانو اصلاح اوتربیی مرکزونه چې یوناما یې نظارت کړی: فیض آباد(بدخشان) ، قلعه نو(باغیس) ، پلخمری (بغلان ) ، د بامیانو ښار (بامیان) ، د نیلي ښار (دایکونډي) ، فراه ښار(فراه) ، میمنه ښار (فریاب) ، ) ، لښکرګاه (هلمند) ، هرات ښار(هرات ) ،شبرغان (جوزجان) ، د کابل ښار(کابل) ، کندهار ښار (قندهار) ، محمود راقی (کاپیسا) ، خوست(خوست) ، اسدآباد (کنړ) ، کندزښار(کندز) ، مهترلام(لغمان) ، جلال آباد (ننګرهار) ، زرنج (نیمروز) ، ګردیز (پکتیا) ، چاریکار (پروان) او تالقان (تخار).د ملي اردو د توقیف خونه چې یوناما یې نظارت کړی دی: د پروان د توقیف خونه (پروان)

[7] د توقیفیانو په ناټاکلي ډول د انتخاب په وخت کې یوناما ته دا شونې وه چې له توقیفي سره د مرکې کولو نه مخکې د جنایي او او وسله والې جګړې اړوند توقیفیانو منځ کې توپیر وکړي. یونا په تصادفي ډول توقیفیان انتخاب کړل او د توقیفیانو ددې ارزو درناوی یې وکړ چې دوي غوښتل یوناما له خپل وضعیت نه خبر کړي. کله کله ، ددې پایله دا هم شوه چې یوناما له داسې توقیفیانو سره مرکې وکړې چې له مرکو کولو نه وروسته مالومه شوه چې دوي په جنایي جرمونو توقیف شوی وو. همدارنګه د نظارت پخواني موده کې د یوناما موندنې ښیي چې په ځینې ځایونو کې ، له جګړې سره اړوند توقیفیانو باندې جنایي تورونه لګیدلي وو او یا له جنایي توقیفیانو سره توقیف شوي وو او چې داسې ګمان کیده چې موخه یې د دوي له جګړې اړوند توقیفیانو څخه جلا کول و او یا دا و چې دوي له هغو باندنې ناظرینو څخه چې د جګړې اړوند توقیفیانو سره مرکې کوي ، پټ وساتي. له ۳۵ توقیفیانو چې په جنایي جرمونو تورن وو او مرکې ورسره شوې وې ، ددوي له جملې څخه یې څلور توقیفیان شکنجه شوي وو.

[8] د کورنیو چارو د محابسو مرکزي ریاست د احصاییې له مخې ، تر ۲۲ اکتوبر ۲۰۱۴ پورې ۷۵۵۵ کسان په توقیف خونو کې وو او یا زندانونو کې د جګړې اړوند جرمونو په تورونو توقیف شوي او یا محکوم شوي وو. د ټولو زندانیانو شمیره ۱۵۶۳۸ وه ، او په توقیف خونو او زندانونو کې ۱۲۲۲۱ توقیفیان چې ټول د ټولو زندانیانو او توقیفیانو شمیر ۲۷۸۵۹ وو.

د ۷۱ هغو توقیفیانو څخه چې نړیوالو ځواکونو او یا بهرنیو استخباراتي ادارو له خوا په یوازې ډول او یا افغان امنیتي ځواکونو سره په ګډه نیولي وو ، ۳۴ یې په سر کې ملي امنیت ته انتقال شوي ، پینځه یې ملي پولیسو او ۳۲ یې افغان ملي اردو (د دوي نه ۲۴ یې په پروان کې افعان ملي توقیف ځای یانې"بګرام") ته انتقال شوي دي.

یوناما له ۱۰۵ ماشومانو سره مرکې کړې دي او ددې ماشومانو عمرونه د توقیف په وخت کې له ۱۸ کلنو کم وو[9]. یوناما د نظارت په دې موده کې له وسله والې جګړې سره په تړلیو جرمونو کې ښځینه توقیفي پیدا نه کړه[10].

همدارنګه یوناما د نظارت په موده کې د امنیتي او د پولیسو چارواکو، دقضا له غړیو ، څارنوالانو ، دمدافع وکیلانو ، د رسنیو کارکوونکو ، صحي کارمندانو ، دبشردوستانه او بشري حقونو ادارو او اړونده استازو سره په کراتو لیدلي او مرکې یې ورسره کړې دي.

## د مرکو خوندیتوب او لارې چارې

یوناما دجګړې اړوند توقیفیان په ناټاکلي ډول خوښ کړل او په مورنۍ ژبه (پښتو یا دري) یې ورسره ځان ته مرکې وکړې او د توقیف د خونو د کارمندانو ، نورو دولتی کارکوونکو او یا نورو توقیفیانو په مخ کې یې ورسره مرکې ونه کړې . ټولو توقیفیانو سره دمرکې په اړوند د رضایت ښودلونه وروسته مرکې شوي او دا ورته ویل شوي چې ورکړې شوي مالومات به په عمومي راپور کې د ددوي د نومونو له ښودلو پرته خپریږي.

دیوناما ټولو مرکه کوونکو د توقیف ، شکنجې ،او ناوړه چلند په هکله د مالوماتو له یوبل سره انډول کولو ، دمحرمیت ، د مالوماتو اعتبار او دمرکو ترسره کولو په هکله معیاري ټرینینګونه ترلاسه کړي وو او د یوناما دبشري حقونو دڅانګې د تجربه لرونکو ناظرینو او کارپوهانو لخوا په جدي توګه د نظارت لاندې وو. مرکه کوونکو د نقل ورکوونکو سوالونو څخه ډډه کوله او دهر توقیفي نه یې وغوښتل چې په ازاد ډول خپله کیسه بیان کړي[11]. دهرې مرکې له پاره د یوناما مرکه کوونکو دمرکې ټول مالومات ټکي په ټکي ولیکل او د کره کولو په خاطر یې له نورو مالوتو سره هم پرتله کړل.

---

[9] دکوچنیانو دحقوقو د نړیوال کنوانسیون (چې افغانستان په ۲۸ مارچ ۱۹۹۴ کې تصویب کړې ده) د قانوني تعریف پر بنسټ ماشوم هرهغه کس ته ویل کیږي چې ۱۸ کلونو څخه یې کم یې عمر کم وي ( ۰-۱۷کلونو). د افغانستان د اطفالو د قانون د پنځمې ماده له مخې هر هغه کس چې عمر یې ۱۲ کلنو ته نه وي رسیدلی ، د جرم کولو په وخت کې مسولیت نه لري.

[10] د ۲۲ اکتوبر ۲۰۱۴ پورې ۴۱۹ ښځینه زندانیانې او ۳۵۹ توقیفیان (ټولټال ۷۷۸) د افغانستان په زندانونو او د توقیف په خونو کې وې. د ۷۷۸ ښځو او جینکیانو له جملې نه چې د افغانستان په زندانونو کې توقیف او یا محکوم شوې وې ډیرې یې په اخلاقي جرمونو لکه د تیښتیدل او زنا کول وړ. یوناما ډیر لا پخوا دا په کلکه ویلي و چې دا ډول محکومیت په ناسم تعقیف باندې ولاړ دی او د افغانستان قوانین ددې ملاتړ نه کوي. یوناما دا هم په کلکه وغوښتل چې افغان چارواکي باید ددې ناسمو کارونو له منځه وړلو لپاره باید ټول اړین قدمونه واخلي او دا ډول ټولې قضیې له سره وڅیړي او ټولې هغه ښځې او جینکیانې سمدستي خوشې کړي. د یوناما او د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ دفتر لخوا خپور شوی راپور ***دتللو لاره: د ښځو پر ضد د تاوتریخوالي لخوا د قانون تطبیق په هکله تازه راپور***(*ډیسمبر ۲۰۱۴*) په دې لینک کې وګورئ.-US http://unama.unmissions.org/Default.aspx?tabid=12261&language=en او همدارنګه په کورنیو چارو وزارت کې د زندانونو او توقیف مرکزونو د عمومي ریاست له ریس سره د یوناما مکاتبه ، ۳۰ نومبر ۲۰۱۴.

[11] دکارپوهانو تجربه او تحقیق نمونو اخیستل داښکاره کوي چې ددرواغو دکشف لپاره بهتره داده چې دتوقیفیانو دخبرو اصلی نسخه دکارپوهانو واک کې ورکړل شي ترڅو بشپړ ډول تحلیل شي. اصلی نسخه کارپوهانوته دا توان ورکوي ترڅو معلومه کړي چې ایا دتوقیفیانو لخوا ادعا دیوی ریښتینې واقعی څخه برسیره شوی یا درواغو کیسو او دمخکی څخه روزنی پربنسټ ادعا شوي. پداسی حال کې چې دخپلی رښتیني کیسې پیښی بیان کې احساسات له مخی وی او دبل چا کیسه دذهن نه نقل کیږی. دتوقیفیانو مقایسه او تحلیل ښکاره کړی چې کله ریښتینې کیسه کوی نو احساسات ، رنګ ، غږ او څیری څخه ښکاري. او یاد راوستل بیا جغرافیوی ، تکرار ، دداخلی پروسیجرو نو او ویلو توانائی کې ښکاری. دغه څیړنو کې یوناما توقیفیانو څخه پوښتلی چې خپله کیسه خپله وینا او طرز باندی بیان کړې. لمړي ازاد سوالونه او خپله خوښه ختمول ددی زمینه مساعده کوی چې دتوقیفیانو دویناوو صحت ارزیابی شي. کله چې توقیفی یوځل پرانستی سوالونه په خپله خوښه پائی ته رسول بیا مرکه کوونکو تړلی او لارښوده سوالونه پوښتلی ترڅو دوینا وو صحت او ریښتیا معلومه شي. لازیاتو مالوماتو لپاره د دبشری حقونو عالي کمیشنرۍ د بشري حقونو د څارنې تریننګ کې په دې لینک کې وګورئ..www.ohchr.org/documents/publications/training7introen.pdf

یوناما د هغو توقفیانو راپورونه چې داعتبار له مخې کره نه وو دشکنجې او غیر انساني چلند په قضیو کې نه دي شمارلې[12]. دیوناما ۷۹۰ توقیفیانو بیلکه کې هغه توقیفیان هم شامل دي چې د شکنجې ، ظالمانه او غیر انساني او سپکوونکی چلند په هکله یې شکایتونه نه لرل او یاهم هغه توقیفیان وو چې ادعاګانې یې دیوناما له پاره د تایید او اعتبار وړ نه وې. له ۷۹۰ توقیفیانو څخه چې مرکې ورسره شوې وې ، یوناما د ۲۷۸ توقیفیانو دشکنجې او بدچلند ادعاګانې کره او باوري وبللې.

هر وخت چې ممکنه وه یوناما له ګڼو همکارانو او سرچینو څخه ، د توقیفیانو د شکنجې او ناوړه چلند عکسونه او نور شواهد په شمول د طبي شواهدو لاس ته راوړل. د توقیف په ډیروځایونو کې چې یوناما ورنه لیدنه کړې وه ، مامورینو د یوناما مرکه کوونکو ته اجازه ورنه کړه چې عکسي کامرې ، ویدیوي کامرې ، د غږ ثبتولو آلې او کمپیوترونه د توقیفیانو د مرکې ځای ته له ځان سره اوسي.

یوناما له توقیفانو سره د مرکو ټول تفصیلات ، له دریم ګړیو شاهدانو او همکارانو سره د لیدلو کتلو په وخت موندنې او یاداښتونه ، له سرچینو او همکارانو څخه لاس ته راوړي اسناد په خپل یو ځانګړي ډیټابیس کې مستند او ریکارډ کړل.

د یوناما مرکه کوونکو د ډیرو توقیفیانو په بدنونو باندې ټپونه ، د پرهار نښې او داغونه ولیدل چې د شکنجې او ناوړه چلند له ادعاګانو ، او د بنداژ او د ټپونو له پاره د نورو طبي درملنې سره یې مطابقت درلود. ګڼو توقیفیانو چې مرکې ورسره شوې وې ، وویل چې دوی هغو ټپونو ته چې د تحقیق او د توقیف په وخت کې ور پیدا شول ، درملنې ته اړتیا لرله.

د امنیتي او محرمیت لاملونو په خاطر ، دا راپور توقیفانو د نومونو په ځای ، په نمبرو یادوي. په دې تړاو کې ، د یو توقیفي د شهرت پټ ساتلو په خاطر ، د "توقیفي" نه موخه هغه شخص دي چې د جرمونو شک پرې شوي وي او یا تور پرې لګیدلی او یا هم محکوم شوی وي.

## د اثبات معیار

### د شکنجې او ناوړه چلند په هکله موندنې

یوناما هغه خپل راټول کړي مالومات (د انفرادي راپورونو او ورته شواهدو په شمول) ښه وسنجول چې دا وپټیي چې د هر یو توقیفي د شکنجې او ناوړه چلند ادعاګانو په اړوند راټول شوي مالومات په کافي ډول کره او باوري دي ، چې یوناما وکړای شي چې ځینې ځانګړی توقیف ځایونو په هکله موندنې په ډاګه کړي او خپلې اندیښنې څرګندې کړي او د جنایي پلټنو او داسې نورو اقداماتو سپارښتنې وکړي.

د "کافي کره او باوري" مالوماتو معیار د دې اساس له پاره وکارول شو چې دا وپټیي چې د توقیف په سیستم کې د نړیوال تعریف سره سم د شکنجې او د ناوړه چلند پیښې په کې رامنځته شوې دي او که نه[13]. دا راپور هغه ځایونه په ګوته کوي چې

---

[12] د بیلګې په توګه ، د فبرورۍ او دیسمبر ۲۰۱۴ په موده کې د ۴۲۲ توقیفیانو له جملې نه چې یوناما ورسره مرکې کړې وې ، ۱۷۳ یې ادعاوې وکړې چې دوی شکنجه شوي او یا ناوړه چلند ورسره شوی. د ۱۷۳ له جملې څخه یوناما د ۴۴ توقیفیانو ادعاګانې کافي کره او د ډاډ وړ ونه بللې او ۱۲۹ توقیفیانو د شکنجې او ناوړه چلند ادعاګانې یې تایید کړې.

[13] شکنجه او ناوړه چلند دواړه په نړیوالوقوانینو په شمول د مدني او سیاسي حقونو نړیوال کنوانسیون او د شکنجې ضد کنوانسیونو له مخې منع دی (دا دواړه کنوانسیونه افغانستان لاس لیک کړي دي). د شکنجې ضد کنوانسیون د لومړۍ مادې پر بنسټ شکنجه عبارت ده له: هر عمل چې د یو کس څخه د مالوماتو ، اقرار او یا هم د بل شخص په هکله چې جرم یې کړي وي او یا تورن وی او یا هم هغه شخص مالوماتو او یا اعتراف اخیستلو په موخه چې د نومړي شخص د جسمي او رواني شدید درد یا رنج سبب کیږي ، شکنجه ګڼل کیږي. همدارنګه د فرد مجازات کول په دې ګومان چې د نومړي یا هم دریم شخص د عمل مرتکب شوی یا هم احتمال شته چې مرتکب شي ، په تهدید ، اجبار ، د تبعیض پر بنسټ د داسې قانوني اجرااتو تر سره کیدلو په وخت رامنځ ته شوی درد او رنج شامل کیدای شي او په تیره بیا چې دا ډول شدید درد دحکومتي چارواکو او یا بل کوم شخص چې په دولتي چوکاټ کې کار کوي په لمسه او د دوي په موافقه منځ ته راغلی وي. په دې کې هغه درد او کړونې شاملې نه دي چې د قانونې اجازې او یا سهوا شوې وي. شکنجه له ناوړه چلند لکه ظالمانه ، غر انساني او تحقیر کونکی چلند نه مختلفه ده ځکه چې په شکنجه کې یو چاته شدید درد ورکول کیږي ، او دا چې درد په قصدي ډول ورکول کیږي او یا دا چې شکنجه د یوې خاصې موخې لکه اعتراف اخیستلو ، د

په ډېرو قضیو کې "کافي کره او باوري" مالومات تر لاسه شول او دايې وښودله چې ډېر ګمان کيږي چې په دې ځايونو کې د جګړې اړوند توقيفيان شکنجه شوي دي.

هغه ځايونه کوم چې په ګوته شوي دي چې هلته شکنجه او ناوړه چلند په منظم او جاري ډول کارول کيږي[14] ، کې توقيفيان چې مرکې ورسره شوې وې او په دې ځانګړيو ځايونو کې توقيف شوي وو ، دوي کافی کره او باوري مالومات ورکړل چې د پورتني معيار له پاره ثبوت کيدای شي. دا په ګوته کوي چې د ټولو هغو توقيفيانو څخه چې مرکې ورسره شوې وې ، ډېر ګمان کيږي چې کابو يو پر درې توقيفيان يې په دې ځانګړيو ځايونو کې شکنجه شوي او ناوړه چلند ورسره شوی دی. د دې مطلب دا دی چې د توقيف ځايونو مديران او تحقيق کوونکي ښايي له دې خبر وي او يا يې د شکنجې امر ورکړي وي او يا د دوی په خوښه شکنجه شوې وي او د ځيني خاص کسانو لخوا په نادره توګه نه ده کارول شوي او نه په کومو ځانګړيو قضيو کې کارول شوې ده.

د توقيف هغه ځايونه په ګوته شوي دي په کومو کې چې په سيستيماتيک ډول شکنجه کارول شوې ده. نيم او يا زيات ( دهغه ټولو توقيفيانو چې مرکې ورسره شوې وې د هغوی ۵۰ سلنه او يا زيات) يې چې په دې ځانګړيو توقيف ځايونو کې توقيف شوی وو ، د شکنجې د کارولو په اړوند يې کافی کره او باوري مالومات ورکړل چې د د دې اثبات د معيار درجې ته رسيږي.[15]

که څه هم د شکنجې ټولې ادعاګانې بايد وپلټل شي ، يوناما "د کافي کره او باوري" د ثبوت د معيار د بنسټيز" د معقول شک" (چې ډېر وخت د قضا جنايي سيستم کې د ننه د پلټنونو دپيل کولو له پاره کارول کيږي) معيار په ځای غوره وباله. د شکنجې د سختوالي او د ډېر ژر زيانمن کوونکي قربانيانو او د دوی د بشري حقونو څخه ښکاره سرغړونو له پاره يو معياري ثبوت په کار دي چې يوناما د دې ډاډ ورکړي چې امکان تر حده پورې يوناما د شکنجې د بندلو له پاره د معقول او لازم اقداماتو سپارښتنې کولای شي.

### د يوناما د نظارت د دورو د موندنو پرتله

په اوسني راپور کې يوناما د توقيف په ځايونو کې مرکه شوې توقفيانو سره د شکنجې او ناوړه چلند د پيښو په باره کې د خپلو موندنو چې د۲۳ مياشتو ځار په موده کې له فبروری ۲۰۱۳ نه ديسمبر ۲۰۱۴ پورې راټولې کړې ، د خپل پخواني راپور د ۱۴ مياشتو ځار چې موده يې له اکتوبر ۲۰۱۱ څخه د ديسمبر ۲۰۱۲ تر پورې وه ، له موندنو سره يې عمومي پرتله کړې ده. د نظارت د دې دوړاو مودو ډيټا د پرتلې له پاره ، د توقيفيانو راخيستې بيلګې د تيروتنې احتمال د نظارت د دورې ، په سيستم کې په يوه ورځ کې (۵۰،۰۰۰) د جګړې اړوند توقيفيانو اټکلي شميره او د توقيفيانو د توقيف د ټول ورځو په اساس حساب شوله.

د جنوری ۲۰۱۳ کال راپور له پاره د ۶۳۵ توقيفانو نمونه وکارول شوه چې د تيروني احتمال يې کم و زيات 3.89 فيصده دی او په سلو کې ۹۵ فيصده مالومات يې باوري دي. د۲۰۱۵ کال د فبروری راپور له پاره د ۷۹۰ توقيفيانو نمونه وکارول شوه چې د تيروتنې احتمال يې کم و يا زيات 3.48 فيصده دی او په سلو کې ۹۵ فيصده مالومات يې باوري دي. د ۲۰۱۵ کال د اوسني راپور د تيروتنې احتمال کم دی ځکه چې د تيروتنې احتمال اندازه کولو لپاره په ۲۰۱۵ راپور کې د

---

تهديد او جبر لپاره کارول کيږي. د شکنجې او ناوړه چلند فرق نورو لاملو لکه جنس ، عمر ، د قربانې د روغتيا حالت ، د چلند موده او ډول او فزيکې او رواني اغيزو سره هم اړه لري. د نور ډېرومالماتو لپاره دويمه ضميمه وګورئ.

[14] د دې راپورلپاره يوناما د "د منظم او موجود" او "سيستيماتيک" ويونه کاروي چې په کوم ځانګړي توقيف خونې کې د يوې کړنلارې د موجوديت منعکس کوي. دا راپور دا نه وايي چې د شکنجې او ناوړه چلند کارول د حکومت د ملی او اداري د سيستماتيک کړنلارې يوه برخه وه.

[15] يوازې هغه د توقيف ځايونه په پام کې نيول شوي دې په کومو کې چې يوناما کافي زيات شمير توقيفيانو سره مرکې کړې دي. د بيلګې په توګه ټولو هغو توقيفيانو سره چې د ملي امنيت د ډايکندي ، سمنګان په توقيف خونو او د ملي پوليس د لوګر په توقيف خونو کې چې يوناما ورسره مرکې کړې وې ، دوي په دې توقيف خونو کې د شکنجې د کارولو په هکله کره او باوري مالومات ورکړل. خو دا درې د توقيف خونې د هغو په ليست کې وانه چول شوې په کومو کې چې شکنجه په سيستيماتيک ډول کارول شوې ځکه چې يوناما د ملي امنيت په دې دوو توقيف خونو کې يوازې دوو توقيفيانو سره او او د ملي پوليسو د لوګر په توقيف خونه کې يې له درې توقيفيانو سره مرکې کړې دي.

(توقیفیانو) د نمونو ډیروالی د اوږدې مودې له نظارت ، په سیستم کې په یوه ورځ کې د توقیفیانو ډیر شمیر او د یو توقیفي د توقیف له ورځو په پرتله ډیر اغیزمن دی. پر دې بنسټ ، یوناما دا وپتیله چې د افغانستان د توقیف سیستم په هکله د یوناما د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۵ کلنو راپورونو کې راټوله شوې ډیټا (مالومات) د احصایې د علم له پلوه له یو بل سره پرتله کیدای شي. او دا د ټول سیستم موندنې دي چې د څیړنو له دې دواړو مودو سره سر تر پایه پرتله کیدای شي.

یوناما د ا هم په ګوته کوي چې د اوسني راپور له پاره راټوله شوې ډیټا (مالومات) د توقیف له ډیرو ځایونو څخه راټول شوي دي چې د هیواد په کچه نمایندګي کولای شي.

## د شکنجې او ناوړه چلند او د حساب ورکونې د پلټنې له پاره ملي ظرفیت او د ولسمشر ۱۲۹ ګڼه فرمان پلي کول

یوناما له ډیرو میتودونو څخه کار واخیست چې د حکومت د شخړې اړوند توقیفیانو د شکنجې او ناوړه چلند ادعاګانې او د ډیر خپل سري او غیر قانوني توقیف په هکله اندیښنې څنګه له منځه وړي. ددې هدف لاس ته راوړولو لپاره ، یوناما خپله زیاتره توجه د ولسمشر ۱۲۹ ګڼه فرمان پلې کیدو باندې متمرکزه کړې ده.

د یوناما د جنورۍ ۲۰۱۳ راپور خپریدو او د هغې نه وروسته د ولسمشر له خوا ټاکل شوی د حقیقت موندونکی هییت د شکنجې او ناوړه چلند په هکله له موندنو وروسته ، ولسمشر حامد کرزي په ۱۶مه فبرورۍ ۲۰۱۳ کې د ۱۲۹ګڼه فرمان صادر کړ[16] چې ۱۲ مادې یې لرلې او موخه یې په اړونده ادارو کې د شکنجې او ناوړه چلند له منځه وړل او مخنیوي کول و. د فرمان د پلي کیدو د نظارت په خاطر ، یوناما د ډیرو میاشتو په موده کې ګڼ شمیر مرکې دولتي چارواکو په شمول د سترې محکمې ، د لویې ځارنوالۍ معاون ، د لویې ځارنوالۍ د افغان ملي پولیسو/نظامي ځارنوال او د هغه معاون ، د لویې ځارنوالۍ د داخلي او خارجي امنیت ځارنوال ، د لویې ځارنوالۍ د فرمانونو د نظارت او تطبیق ریس ، د ملي امنیت د ۴۷ ریاست ریس ، د کورنیو چارو د وزارت د جنډر ، د بشري حقونو او ماشومانو د حقونو ریس ، د پولیسو د اکاډمۍ له چارواکو او د کورنیو چارو د تفشیش ریس سره وکړې.

یوناما همدارنګه د ایساف له غړیو ، په افغانستان کې د اروپایي ټولنې د پولیسو هییت (یوپول) مشاورینو ، د افغانستان د مدافع وکیلانو خپلواکه ټولنې ریس ، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسون له نماینده ګانو او د بشري حقونو/د قانوني مرستو له ادارو سره لیدنې کړې دي.

په ولایتي کچه یوناما د قضا له غړیو ، ځارنوالانو ، د مدافع وکیلانو او د توقیف د خونو له چارواکو سره او همدارنګه د ایساف سمیه ییز مامورینو سره د نظارت په موده کې په کراتو مرکې او لیدنې کړې دي.

یوناما د سترې محکمې ریس ، لویې ځارنوالۍ ، د چارو عمومي ریاست او وزیرانو شورا دارالانشاء ، د عدلیې وزارت ، د کورنیو چارو وزارت او د ملي امنیت عمومي ریاست سره د ولسمشر د ۱۲۹ ګڼه فرمان د پلي کیدو له پاره د اجرااتو په هکله رسمي مکتبونه لیږلي او رالیږلي دي.

یوناما له نورو رسمي اسنادو څخه مالومات راټول کړي او څیړلي یې دي اوپه دې کې د لویې ځارنوالۍ د هییت لخوا تیار شوي راپورونه چې په ۲۰۱۳ کال کې یې د شکنجې ادعاګانو پلټنه کړې وه ، هم شامل دي. د هرات او د کندهار د لویې ځارنوالۍ د پلاوي لخوا تیار شوي راپورونو ته یوناما لا س رسی درلود ، خو د کابل د لویې ځارنوالۍ د پلاوي لخوا صادرشوي راپور ته یې لاس رسی نه درلود. د ملي امنیت عمومي ریاست له خوا دپرمختګ څلور راپورونه ، د لویې ځارنوالۍ لخوا د پرمختګ درې راپورونه او دکورنیو چارو لخوا د پرمختګ یو راپور د ولسمشر دفتر ته سپارل شوي وو او یوناما ددې

16

راپورنو غوښتنه وکړه او ترلاسه یې کړل[17]. په دې راپورونو کې هغو اجرااتو ته اشاره شوې ده چې د ولسمشر د فرمان اطاعت په خاطر دې ادارو کړي وو.

یوناما همدارنګه هغه اسناد هم څیړلي دي چې کورنیو چارو ریاست ، د ملي امنیت عمومي ریاست او د لویې څارنوالۍ لخوا صادر شوي اود دوي د خپلو کارکوونکو منځ کې ویشل شوي دي ، په تیره بیا د توقیفیانو د حقونو په هکله حکمونه ، لارښونې او کړنې چې په دې کې د شکنجې د منع او د قانوني اجرااتو ضمانت په کې اړین بولي او په دې باندې تاکید کوي.

په پای کې یوناما د ځواب ورکونې په موخه اړونده ادراو لخوا د اخیستل شوي اقدامات او همدارنګه د عدلي غیر رسمي میکانیزمونو لخوا د شکنجې د ادعاګانو حل; څارلی ، پلټلی او تایید کړی دی.

[17] د ولسمشر د ۱۲۹ ګڼه فرمان حکومتې ادارو ته امر کړی و چې د ولسمشر دفتر هر درې میاشتې وروسته د ولسمشر دفتر ته راپور ورکړي او د هغو اجرااتو په هکله چې د اړونده فرمانونو د ا اطاعت لپاره شوي دي ، نوي مالومات ورکړي.

## لومړۍ نقشه: د توقیف ۱۲۸ ځایونه چې یوناما لیدلي دي



## د راپور لنډیز

*" افغان ملي پولیسو زه او زما ځیني خپلوان او ملګري ونیول. دوي موږ د تروریزم ضد څانګې ته بوتلو او له ما یې پوښتنه وکړه چې ایا زه وسله لرم او که نه. ما ورته وویل چې زه یې نه لرم. د تروریزم ضد څانګې یو مامور ماته وویل چې ما تروریستي فعالیتونه کړي دي. ما ورته وویل چې داسې خبره نه ده او زه یو عادي کارګر یم. ما چې څومره ډیر ورته وویل چې زه په دې کارونو کې لاس نه لرم ، نو همدومره به دوي په غوسه شول او زه یې د پښو په تلو باندې په کیبلو ووهلم. ما ته یې د برقي شاک راکړل. دوي زما د پښو په غټو ګوتو پورې ویرونه وتړل او د یو لاستي په ذریعه یې د برېښنا ولتیج یا قوه زیاته کړه. د برقي شاک په وخت کې ما خبرې نه شوې کولای او له هغې وروسته زه نور د تللو نه اوم. یو کس زما مرئ باندې په لاسونو زور وکړ او له دې امله زه د درد احساس کوم. همدې ډلې ما سره دا ډول کار درې وارې وکړ. هغوکسانو چې ماته یې شکنجه راکوله ځینو یې د پولیس یونیفورم اغوستی وو او ځینې نور یې بیا په ساده کالیو کې وو."*

**(توقیفي نمبر ۳۳۰، د هرات امنیه قومنداني ، اګست ۲۰۱۴)**[18]

*" د ملي امنیت ریاست د بشري حقونو د مامور په حیث ، زه د خپل کار مخته بیولو له پاره کوم اړین شرطونه نه لرم. د بشري حقونو څخه د سرغړونې له پاره دلته د معافیت یوه عامه روحیه موجوده ده. د ملي امنیت ریس همکار نه دی او زما ځیني همکاران بیخي بې پروا دي او ماته وایي چې بس پرېږده یې. د ملي امنیت په ریاست کې ما هیڅوک هم په عملي ډول له کاره نه منع کوي خو منفي مقاومت ، دلوژیستیکي ملاتړ څخه انکار شتون لري. زما په هغو راپورونو عمل نه کیږي چې زه یې خپل آمر ته کابل ته لیږم.*

**( د ملي امنیت د ولایتي ریاست د بشري حقونو مامور ، سیپتمبر ۲۰۱۴)**

### سریزه

له ۲۰۱۰ نه راپدیخوا دافغانستان له پاره دملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له خوا ورکړی شوي صلاحیت په ر ڼا کې د افغانستان د توقیف ځایونو کې د جګړې اړوند توقیفیانو سره د چلند نه څارنه کړې ده.[19] د اکتوبر ۲۰۱۰ کال نه تر دیسمبر ۲۰۱۲ کال پورې یوناما د افغانستان ملي امنیت عمومي ریاست او د کورنیو چارو وزارت په مرسته له ۱۰۱۴ توقیفانو سره چې د ملي امنیت ریاست او د افغان ملي پولیسو په ۸۹ توقیف ځایونو کې توقیف شوي وو ، مرکې کړې دي او د دې مرکو موندنې په دو راپورونو کې په اکتوبر ۲۰۱۱ او جنوری ۲۰۱۳ کې خپرې شوې دي.[20]

د ۲۰۱۱ او د ۲۰۱۳ راپورونو کې کافي کره او باوري ثبوتونه وو چې له ټولو هغه توقیفانو سره چې مرکې ورسره شوې وې ، کابو نیمایې یې د ملي امنیت ریاست او افغان ملي پولسو په توقیف ځایونو کې زیاتره ددې له پاره د تحقیق په وخت کې د شکنجې او ناوړه چلند نه تیر شوي وو ، چې له دوي څخه اقرار او یا مالومات واخلي. د یوناما موندنې ښیي چې ملي امنیت ریاست او افغان ملي پولسو د توقیف په څو ځایونو کې شکنجه په سیستیماتیک ډول کارول شوې وه ، اود افغانستان

---

18 ددې لپاره چې د منبعو امنیت او محرمیت وساتل شي ، نومونو او افرادو ته ټول نسبتونه (ادعایي مرتکبین او توقیفیان) چې کیدای شي د منبعې د پیژندلو لامل شي حذف کړي دي. ټول تاریخونه چې د توقیفیانو په راپورنو کې ورته اشاره شوې ده ، هدف یې هغه میاشت/نیټه ده په کومه کې چې شکنجه او ناوړه چلند د توقیف یه یو ځای کې منځ ته راغلي دي.

19 په دې راپور کې د "د یوناما ماموریت" برخه وګورئ.

20 د یوناما او د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ راپورونه ***د افغانستان په توقیف خونو کې د جګړې اړوند توقیفیانو سره چلند (اکتوبر ۲۰۱۱)*** او ***د افغانستان په توقیف خونو کې د جګړې اړوند توقیفیانو سره چلند: یو کال وروسته ( جنوري ۲۰۱۳ )*** په دې لینک کې وګورئ: http://unama.unmissions.org/Default.aspx?tabid=12261&language=en-US

حکومت موقف يې چې د توقيفانو سره شکنجه او ناوړه چلند يو ادراي او حکومتي کړنلاره نه ده ، هم په نظر کې نيولې ده. راپورونو کې د ايساف هغه اقدامات هم په نظر کې نيول شوي دي چې د افغانستان د توقيف ځايونو کې د شکنجې له منځه وړلو له پاره يې اخيستي دي او په دې اقداماتو کې د ملي امنيت رياست او افغان ملي پولسو هغه توقيف ځايونه چيرته چې شکنجه په سيستيماتيک ډول کارول کيږي ، د توقيفيانو د انتقال په ټپه درول او د توقيف ځايونو د تصديق د پروسې له سره پيل کول دي. يوناما په هغو دو را پورونو کې اړوند وزارتونو او نړيوالو همکارانو ته ۸۲ سپارښتنې کړې وې.

د جنورۍ ۲۰۱۳ راپور دا په ګوته کوي چې په ۲۰۱۲ کال کې د حکومت او نړيوالو همکارانو لخوا د شکنجې له منځه وړلو له پاره د پام وړ اقداماتو سره سره ، د توقيف په ځينې ځايونو کې شکنجه بيا هم روانه وه.

په ۲۰۱۳ کال د فبرورۍ په ۱۶مه نيټه د افغانستان پخواني ولسمشر حامد کرزي د افغانستان د عدلي او امنيتي مقاماتو له تشکيل څخه حقيقت موندونکی هيبت وټاکه چې د يوناما د جنورۍ ۲۰۱۳ راپور موندنې وڅيړي[21]. دې هيبت په کابل ، کندهار او هرات کې توقيف ځايونه وليدل ، له ۲۸۴ توقيفيانو سره يې مرکې وکړې او ولسمشر حامد کرزي ته يې په اتلسو مخونو يو راپور تيار کړ چې ددې پلاوي موندنې او يوولس سپارښتنې په کې وې[22]. د ولسمشر پلاوي دا تاييد کړه چې د ملي امنيت رياست او د افغان ملي پوليسو په يو شمير توقيف ځايونو کې شکنجه شتون لري او له ۲۸۴ توقيفيانو سره چې دې هيبت ورسره مرکې کړې وې ، ۱۳۶ (۴۷ سلنه) يې وهل شوي دي (په شمول د وهلو ، ګوابښ او ناوړه چلند شتون درلود). پلاوي وويل چې دوي د افغانستان په هغو توقيف ځايونو او زندانونو کې چې دوي ورغلي وو ، په سيستيماتيک ډول شکنجه ونه موندله. د پلاوي موندنې ښيي چې توقيفيانو طبي درملنې په شمول د شکنجې له امله جوړشوي ټپونو له پاره طبي درملنې ته سم لاس رسی نه درلود او د ګرفتارۍ له وخت نه يې د مدافع وکيل ته هم لاس رسی نه درلود.

د پلاوي د سپارښتنو په ځواب کې پخواني ولسمشر حامد کرزي د ۱۲ مادو ۱۲۹ ګڼه فرمان په ۱۶مه فبرورۍ ۲۰۱۳ کال کې صادر کړ[23]. په دې فرمان کې لويې څارنوالۍ ته حکم شوی و چې د شکنجې مرتکبين څارنوالۍ ته وړاندې کړي او شکنجه دې ودروي. او د پولس ، عدليې او امنيتي مامورينو ته دې امر وکړي چې توقيفيان شکنجه نه کړي ، خپلې قانونې دندې په سم ډول مخ ته بوزي ، توقيفيانو ته د مدافع وکيلانو د لاس رسي او درملنې زمينه برابره کړي ، په غير قانوني ډول توقيف شوي کسان خوشي کړي او هر ډول تحقيق په ويډيوي بڼه ثبت کړي. ادارو ته امر شوی وو چې د ولسمشر دفتر ته په هرو دريو مياشتو کې په دې ادراو کې د فرمان د پلي کيدو په اړوند راپور ورکړي.

د ۱۲۹ ګڼه فرمان له صادرولو وروسته ، يوناما په ټول افغانستان کې د توقيف ځايونو کې د جګړې اړوند توقيفانو سره چلند او د توقيف کړنلارو څارنې ته ادامه ورکړه. د يوناما نظارت په ځانګړې ډول په د ې متمرکز و چې حکومتي اداري د ۱۲۹ ګڼه فرمان څنګه پلې کړی او ايا هغه اجراات اغيزمن وو او که نه چې د شکنجې له منځه وړلو او منع کولو په موخه يې امر شوی وو.

## د اوسني راپور موندنې

دا اوسنی راپور د لومړۍ فرورۍ ۲۰۱۳ کال څخه تر ۳۱م ديسمبر ۲۰۱۴ په موده کې د يوناما د افغانستان د توقيف ځايونو د نظارت موندنې وړاندې کوي او د يوناما د توقيف په اړوند د پخواني راپور (د اکتوبر ۲۰۱۱ نه تر ديسمبر ۲۰۱۲ پورې د دورې نظارت چې د يوناما د جنورۍ ۲۰۱۳ راپور کې يې تفصيل ورکړی شوی دی) د موندنو سره عمومي پرتله کوي.

---

21

22 د ولسمشر د هيت څيړندوند د جګړې اړوند توقيفيانو او يا د يوکال مودې ته محدود نه و (د يوناما راپور د جګړې اړوند توقيفيانو سره چلند د يوکال په موده کې څيړلی). د هيت راپور عامو وګړو لپاره نشر شو خو که څوک وغواړي نو کيدای شي د حکومت د اداري چارو له دفتر نه يې تر لاسه کړي. دا راپور يوناما سره هم شته. د ولسمشر لخوا د ټاکل شوي حقيقت موندونکي هيبت د د مطبوعاتي کانفرانس چې په ۱۱ فبرورۍ وشو او د خپلې د څيړنو موندنې يې اعلانولې ، د دې راپور دريمه ضميمه د ددې مطبوعاتي کانفرانس پوره متن لپاره وګورئ.

23

د یوناما اوسنی څېړنه  په توقیف کې د شکنجې او ناوړه چلند په اړوند اندیښنو او د حساب ورکونې په شمول د ولسمشر د ۱۲۹ ګڼه فرمان د پلي کیدو په اړوند د ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کلنو  په موده کې د حکومت ارزونه کوي. اوسني راپور حکومت او د هغه نړیوالو همکارانو ته د هغو اقداماتو د غښتلي کیدلو له پاره چې شکنجه له منځه وړي او مخنیوي یې کوي ، نوې سپارښتنې کړې دي.

د ملي امنیت عمومي ریاست او د کورنیو چارو وزارت چارواکو له یوناما سره مرسته کړې ده او د نظارت په دې موده کې یې یوناما ته له توقیفیانو سره او د توقیف ځایونو ته  د لاس رسي زمینه برابره کړې ده. یوناما د دې دواړو ادارو له چارواکو سره په کابل ، په ولایتونو او ولسوالیو کې ډېر ځلې لیدلي دي چې  په اړونده اندیښنو او د هغو په تعقیبي اقداماتو باره کې خبرې وکړي او مناسب مالومات ورسره شریک کړي.

یوناما د ۷۹۰ توقیفیانو او محکومینو په شمول د ۱۰۵ ماشومانو سره مرکې وکړې ، دوي د افغان ملي پولیسو ، افغان ملي سرحدي پولیسو ، افغان ملي اردو ، افغان سیمه ییزو پولیسو او د ملي امنیت ریاست له وسله والې جګړې سره تړلیو جرمونو په تور توقیف شوي وو. د ۷۹۰ توقیفیانو له جملې څخه ۳۴ توقیفیان چې مرکې ورسره شوې وې ، د هغو جرمونو په تور توقیف شوي وو چې له وسله والې جګړې سره یې کوم تړاو نه درلود[24]. د یوناما په دې نظارت کې د توقیف ۲۲۱ ځایونه چې په ۲۸ ولایتونو کې موقعیت لري[25] او د لومړۍ فبرورۍ ۲۰۱۳ کال څخه د ۳۱ م دیسمبر ۲۰۱۴ کال په موده کې کړې مرکې هم شاملې دي.

یوناما په نړیواله کچه منل شوي څېړندودونه ، معیارونه او ښې بیلګې کارولې دي او یوناما کافي کره او موثق شواهد لري چې د نولس میاشتو په دې موده کې د ملي امنیت ریاست ، افغان ملي پولیسو  ، افغان ملي اردو او د افغان سمیه ییز پولیسو په ځینې توقیف ځایونو کې د ۷۹۰ توقیفیانو له جملې نه چې مرکې ورسره شوې دي ، ۲۷۸ یې (۳۵ سلنه) او یا په هرو دریو کې یو توقیفي شکنجه شوی او یا ناوړه چلند ورسره شوی دی[26]. د ۱۰۵ ماشومانو جملې نه چې مرکې ورسره شوې وې ،۴۴ یې شکنجه شوي او یا ناوړه چلند ورسره شوي وو.

د یوناما اوسني نظارت په موده کې  له هغو توقیفیانو سره چې مرکې ورسره شوې د شکنجې په پېښو کې  د خپل مخکیني نظارت د مودې په پرتله ۱۴ سلنه کمی ولید[27]. که څه هم د اوسنۍ څېړنې موندنې ښیي چې ۳۵ سلنه ( د ۷۹۰ توقیفیانو چې مرکې ورسره شوې وې له جملې نه ۲۷۸) توقیفیان شکنجه شوي او یا ناوړه چلند ورسره شوي وو ، خو د یوناما مخکیني

---

[24] د توقیفیانو د بیلګو بشپړ تفصیل لپاره چې یوناما د نظارت په موده کې ورسره مرکې کړې دي په شمول د هغو ۳۵ توقیفیانو چې جرمونه یې د جګړې سره  تړاو نه درلود ،   د دې راپور د څیړندود  برخه وګورئ. د توقیفیانو ډیری هغه کسان وو چې په دوي باندې دا تورونه چې د طالبانو او یا د دولت ضد  نور وسله واله ډلو غړي ، ملاتړ کوونکې او جنګیالي دي. د ماشومانو دحقوقو د نړیوال کنوانسیون  د قانوني  تعریف پر بنسټ ماشوم هرهغه کس ته ویل کیږي چې ۱۸ (۰-۱۷ کلنو عمر واله ماشومان )کلونو څخه یې کم  یې عمر کم وي.یوناما ددې توقیفیانو چې مرکې ورسره شوي دي او داچې په  دوي د جرمنو شک شوي او یا تورن او یا محکوم شوي دي ، یوناما د دوي د جرم او بې ګناهي په هلکه کومه پریکړه او یا هم کوم ګمان نه کوي.

[25] د څارنې په دې دوره کې یوناما د توقیف ګن ځایونه په کراتو لیدلي دي.

[26] د  ۷۹۰ د توقیفیانو له جملې څخه چې مرکې ورسره شوې وې ، کابو نیم یې (۴۰۶ توقیفیان) ادعاګانې وکړې چې شکنجه شوي او ناوړه چلند ورسره شوی.  د ۴۰۶ توقیفیانو له جملې ، یوناما د ۲۷۸ توقیفیانو ( کابو ۶۹ سلنه) راپورونه کافي کره او د ډاډ وړ وو. د دې اندیښنې له منځه وړلو له پاره چې کیدای شي د توقیفیانو د شکنجې راپورونه ناسم او دروغ وي او د حکومت په ضد د پروپاګاند په ډول کارول شوي دي ، یوناما د شکنجې او ناوړه چلند د ادعاګانو نمونې د توقیف په ټولو او هم ځانګړیو کې وڅیړلې چې ادعګانې تاید کړي ، په ځینو ځانګړیو توقیف ځایونو کې سپکوونکي کارونه په ګوته کړي او د دروغو راپورونه پیدا کړي او رد یې کړي. له توقیفیانو ، همکارانو او منابعو سره د مرکو کولو نه علاوه ، یوناما مستند فیلمونه ، عکسونه ، طبي او نور د شکنجې او ناوړه چلند نور شواهد تر لاسه کړل او هغه یې له سره په غور وکتل. دا ډول مواد افغانستان حکومت په شمول د لوړو پوړو چارواکو سره شریک شول. ددې راپور د **څیړندود** او اوله ضمیمه: *د یومانا د څیړندود په هکله پوښتنې او د یونام ځوابونه* وګورئ. دا راپور د شکنجې تعریف د نړیوال منلي شوي تعریف کاروي کوم چې د شکنجې ضد کنوانسیون د اولې مادې کې راغلی دی. ددې راپور دویمه ضمیمه وګورئ.

[27] دې خبرې ته اشاره ضروري ده چې د شکنجې او ناوړه چلند پیښو کې کمی یوازې د توقیفیانو په هغو بیلګو کې چې یوناما ورسره مرکې کړې وي او په  د توقیف په هغه ځایونو کې یوناما په ځانګړو ورځو کې ورنه څارنه کړې وه ، لیدل شوی دی. نو ځکه ، د توقیف هغه ځایونه چې یوناما نه دي لیدلي او یا یوناما ته د ورتګ اجازه نه ده ورکړی شوې ، د هغوي په هکله د شکنجې او او ناوړه چلند د پیښو شتوالي او  شکنجې او او ناوړه چلند کارولو په هکله  یوناما څارنه نشي کولای. د توقیفیانو هغه بیلګه کې چې یوناما ورسره په خاص وختونو په ځانګړیو ځایونو کې لیدلی  د۱۴ سلنه  په شکنجه کې کمښت  کیدای شي په بل عبارت په دې مانا وي چې په ښایي  د توقیف په هغو ځایونو کې شکنجه ډیره شوې وي کومو ته چې یوناما لاس رسی نه لري.

راپور وښودله چې ۴۹ سلنه توقیفیان (د ۶۳۵ توقیفیانو چې مرکې ورسره شوې وې له جملې نه ۳۱۴) یې شکنجه شوي او یا ناوړه چلند ورسره شوي وو[28].

کله چې یو څوک شکنجه شوی نو د یوناما پخواني راپور موندنو ته ورته ، شکنجې په عمومي ډول د تحقیق د سپکوونکي طریقو بڼه خپله کړې ده او په دې طریقو کې د ملي امنیت ریاست ، افغان ملي پولیسو ، افغان سیمه ییزو پولیسو او یا د افغان ملي اردو کارمندانو قصداً توقیفیان د تحقیق وخت کې ډیر زورولي او سخت دردونه یې ورکړي او د دې اصلي موخه د اعتراف او یا مالوماتو اخیستل دي. دا ډول کارونه چې شکنجې ته ورته دي ، د بشري حقونو څخه جدي سرغړونه ده او د نړیوالو قوانینو مطابق جنګي جنایت او د بشریت په ضد جرم دي[29]. شکنجه او ناوړه چلند د افغانستان په اساسي قانون کې منع ده او د افغانستان د قوانینو په رڼا کې جرم دی[30] او د اسلام په اساسي اصولو او شریعت کې ناروا ده[31].

توقیفیانو د شکنجې شپاړس ډولونه بیان کړل. دوي ته شکنجه په مختلفو ډولونو لکه د اوږدې مودې له پاره په کیبلونو ، پلاستیکي پایپونو ، په پلاستیکي نلونو او یا هم په لښتو (چې د پښو په تلوباندې وهل هم په کې شامل و) باندې سخت وهل ډبول ، په سوک وهل ، په ټول بدن باندې ډبول او په لغته وهل چې د توقیفي په بدن باندې له پاسه ټوپونه وهل هم په کې شامل و ، د تناسلي آلې تاوول چې په دې کې د پلاس په واسط د تناسلي آلی تاوول هم شامل وو ، او د اعدام کولو او ورسره د جنسي تیري ګواښ کول ، شامل وو. د شکنجې نور ډولونه ځړول ، برقي شاک ، سخت وضعیت کې راوستل ، په زوره د اوږدې مودې له پاره درول چې په دې کې بیا د ډیرې ګرمۍ او یخنۍ په حالاتو کې هم شامل و ، په کراتو په زوره درول او کښینول او یا د پښو په ګوتو کښیناستل ، ډیرې اوبه په زورهورباندې څکل ، د ډوډۍ او د اوبو د ورکولو څخه انکار او لمونځ ته نه پریښودل.

د نورو ډیرو پیښو راپور وکړای شو لکه د لاسونو او د پښو د ګوتو باسل ، د توقیفي په خوله کې د رخت او یا پلاستیکي خلتو تخته کول ، له پوزې نیول او خفه کول چې د توقیفي د تربوخولو او همدارنګه د بې هوښه کیدلو لامل شو "او دا پیښه داسي بیان شوه لکه چې یوڅوک د اوبو نه پرته ډوبیږي" . توقیفیانو چې مرکې ورسره شوې وې وویل چې دوي ته ډول ډول شکنجې ورکړل شوې وې او په وخت وخت سره یې دوي ډیر ربړول کله چې توقیفیانو د هغو جرمونو چې په دوي یې تور لګیدلی و ، د اعتراف کولو څخه انکار وکړ او یا د مالوماتو په ورکوو او یا یې په تاکید کولو پاتې راغلل. ډیرو توقیفیانو وویل

---

[28] ددې راپور د څیړندود برخه وګورئ. یوناما د دو بیلګو توقیفیانو چې ورسره مرکې شوې وې او دوه د نظارت مودې یو له بله سره د پرتلې وړ وو ، د یونا تخمینه ښیي چې د شکنجې او ناوړه چلند په پیښو کې په سلو کې ۱۴ فیصده کمی راغلی دی. یوناما دا هم وایې چې د اوسني را پور لپاره مالومات /ډیټا له ډیرو توقیف ځایونو څخه را ټوله شوي چې د هیواد په کچه نیمایندګي په کې زیاته شوې ده.

[29]

[30] د افغانستان حکومت په جون ۱۹۸۷ کې د شکنجې پر ضد کنوانسیون تصویب کړ. د افغانستان د اساسي قانون ۲۹ ماده داسې وایي: "هیڅوک نه شي کولای چې له بل شخص څخه حتې د حقایقو تر لاس ته کول لپاره که څه هم تر تعقیب ، نیونې یا توقیف لاندې وي او یا په جزا محکوم وي ، د هغه د تعذیب لپاره اقدام وکړي یا یې د تعذیب امر ورکړي." د افغانستان د جزا قانون شکنجه جرم ګڼي او ۲۷۵ ماده وایي چې که چیرې دولتي مامورین (په شمول د ملي امنیت او د ملي افغان پولیس) د اعتراف اخیستلو لپاره تورن شکنجه کړي ، نو د ۱۵ کالو پورې قید ورکولای شي.

[31] یوناما په افغانستان کې ګڼو دیني عالمانو سره مشورې وکړې او یوناما ته څرګنده شوه چې په شریعت کې د شکنجې د ممنوعیت موخه د ټول انسانان خوندي کول دي او په دې کې هغه کسان هم شامل دي چې نور یې دښمن ، کافر او وغیره ګڼي. یوناما وموندله چې د شکنجې په اړوند اسلامي شریعت عام دی او د مسلمان او غیر مسلمان تر منځ توپیر نه کوي. قران د مسلمان د مکلفیتونه ښودلي چې ټول انسانان په شمول د منفورو کسانو او د جګړې له زندانیانو سره په ښو اخلاقو او تقوا سره یو شان ته رویه وکړي. ددې ډول کسانو د پاملرنې لپاره د قانون برابر تطبیق لپاره جواز د قران په دو ایاتونو کې راغلی دی. همدارنګه دې ورته ممنوعیت په لاندې یو حدیث کې راغلی دي: قران وایې: "دوي د الله د رضا لپاره غریبانو ، یتیمانو او بندیانو ته ډوډې ورکوي او دوي ورته وایې. موږ تاسې ته یوازې د الله د رضا په خاطر ډوډۍ درکوو. موږ نه هیڅ ډول انعام غواړو او نه د احسان تمه کوو." (قران ، النسان سورت ۸ ایت) "اې هغوکسانو چا چې ایمان راوړی. تاسې په انصاف سره شاهدي ورکولو سره د الله لپاره ودریږئ. او د هیڅ یو قوم د ښمني تاسې په دې خبره رضا نه کړي چې تاسې انصاف ونه کړئ. تاسې انصاف کوئ هغه تقوا ته زیات نزدې دی او د الله تقوا کوئ. څه چې تاسې کوې ، الله په تحقیق سره د هغه نه خبر دی." (قران ، المایده سورت ، ۸ ایت) یو مشور حدیث ( الشعباني ، السیروالکبیر ، ۲/۵۹۱ د جګړې له یرغمالو ، بندیانو او زندانیانو سره د چلند په اړوند) دی: " دوي ما مجبوروی چې د لمر د ګرمۍ لاندې راټول شي او نه د وسپزنیز وسلو ( انعکاس) لاندې. دوي ته اجازه ورکړئ چې تر هغې پورې دوي دمه وکړي او اوبه وڅښي ترڅو دوي تقویه شي."

چې د دوي شکنجه کول به هغه وخت ودریده کله به چې دوي نه په زوره اعتراف واخیستل شو او یا به دوي د اعتراف په سند باندې ګوتې ولګولې[32].

یوناما ته د افغان ملي پولیسو او ملي امنیت د ګڼو متبادلو اوغیر رسمي توقیف ځایونو[33] په هکله یو وار[34] بیا راپورونه رارسیدلي. دا ډول ادعا ګانې دا اندیښنې راولاړوي چې د توقیف متبادل ځایونه کیدای شي د جګړې اړوند توقیفیانو د تحقیق او شکنجې له پاره کارول شوي او هغوادارو او لوړپوړو چارواکو چې د رسمي توقیف ځایونو څخه د نظارت لیدنې کوي ، د توقیف متبادل ځایونو ته لاس رسی ونه لري.

یوناما د ولسمشر ۱۲۹ ګڼه فرمان د تطبیق په شمول د شکنجې او ناوړه چلند له منځه وړلو له پاره د ۲۳ میاشتو په موده کې د حکومت اقدامات څارلي دي. د یوناما نظارت دا په ګوته کوي چې که څه هم دا اقدامات د پام وړ وو ، خو پایلې یې هم ښې او هم بدې وې. د تشویق یوه خبره ددې موندنه وه چې د یوناما پخواني نظارت په پرتله ، د شکنجې پیښې په ۷۹۰ توقیفیانو کې چې یوناما ورسره مرکې کړې وې ، ۱۴ سلنه کمې شوې وې[35]. دا کمی ښایې تر یوه حده د نوي کړنلارو او لارښودونو چې د شکنجې ممانعت کوي ، د بهرنیو ادارو لخوا د توقیف ځایونو په لیدلو کې زیاتوالی ، د تحقیق په متبادلو تخنیکونو باندې متمرکز ټریننګونه او د ملي او نړیوالو فعالینو د نورو هلو ځلو ، له امله راغلی وي.

خو سره له دې ، حکومت د شکنجې او ناوړه چلند په اړه د حساب ورکونې له پاره کوم اقدامات نه دي کړي. یوناما د پخوانیو موندنو په شان دا ځل ورته جوته شوه چې د شکنجې مرتکبینو له پاره په حساب ورکونې کې دوامدره کمی و ، د دوي په اړوند پلټنې ناکاره وې او د شکنجې له مرتکبینو څخه ډیر کم یې قانوني تعقیب ، له دندو ګوښه او تأدیبي سزا ګانې ورته ورکړې شوې. د ملی امنیت عمومي ریاست او د کورنیو چارو وزارت داخلي د حساب ورکونې او څار میکانیزمونه په شمول د بشري حقونو او د تفشیش ریاستونو کافي نه وو ځکه چې دوي په کافي ډول خپلواکي ، صلاحیت ، روڼتیا او ظرفیت نه درلود.

د معافیت دې رواني لړۍ له امله شکنجې دوام وموند او لکه څرنګه چې په دې راپور کې ښکاره شوې ده ، که څه هم د شکنجې پیښو کې کمی راغلی دی ، خو افغان چارواکو بیا هم د ۷۹۰ توقیفیانو له جملې نه چې مرکې ورسره شوې ، یو پر درې توقیفیانو (چې ۳۵ سلنه کیږي) په وړاندې د شکنجې نه کار اخیستی وو.

یوناما ته دا هم جوته شوه چې شکنجې دوام وموند ځکه چې د ملي امنیت او د افغان ملي پولیسو مامورین اوس هم شکنجه د اعتراف اخیستلو له پاره یوه غوره لار ګڼي چې هغه کسان محکوم کړي کوم چې د دوي په اند د جګړې اړوند جرمونه یا کړي دي او یا یې ملاتړ کړی او دوي د جنګ له میدان څخه وباسي. د شکنجې یو بل لامل دا دی چې د افغانستان د جزا عدلي نظام په مکمله توګه د جرمونو په اعتراف باندې ولاړ دی او اعتراف ابتدایي اساس بولي چې د یوې دوسیې د محکومیت او د هغې د جواز فیصله پرې وکړي[36].

---

[32] ډیر هغه توقیفیان چې یوناما ورسره مرکې کړې وی ، بې سواده وو. په سند یا کاغذ ګوتې لګول ډیر وخت په داسې قضیو کې د موافقې او یا د لاسلیک په ډول کارول کیږي.

[33] د یوناما په پخوانیو راپورونو کې د توقیف غیر قانوني ځایونو په هکله د یوناما راپور ***د افغانستان په توقیف خونو کې د جګړې اړوند توقیفیانو سره چلند: یو کال وروسته ( جنوري ۲۰۱۳ )*** ۱۲م مخ وګورئ.

[34] د بیلګې په توګه ، ګڼو حکومتي چارواکو او نورو سرچینو (د امنیتي دلایلو له امله یې نومونه نه شو ښودلی) یوناما ته وویل چې دوي په کندهار کې د ملي امنیت د څلورو غیر رسمي توقیف ځایونو نه خبر دي او دوي د هغو ولسوالیو نومونه هم واخیستل په کومو کې چې د توقیف درې غیر قانونی خایونه شتون لري. د یوناما مرکې ، اګست او اکتوبر ۲۰۱۴.

[35] ۲۷ نمبر لمن لیک (فوټ نوټ) وګورئ.

[36] ***د افغانستان په توقیف خونو کې د جګړې اړوند توقیفیانو سره چلند: یو کال وروسته ( جنوري ۲۰۱۳ )*** راپور کې "د یوناما د شکنجې د راپور په غبرګون کې قانوني اجرات او جنایي عدلي سیستم" برخه دلته اوګورئ: http://unama.unmissions.org/Default.aspx?tabid=12261&language=en-US او د نوي مالوماتو او خیړنې لپاره د راپور وروستنۍ برخې وګورئ.

د افغانستان اساسي قانون او د ۲۰۱۴ د جزايي اجرااتو نوی قانون[37] کې د قانوني اجرااتو ضمانت په کې شته چې يو توقيفي له شکنجې نه ساتي. د دې سره سره د دې قوانينو ډېرې مادې په دوامدره توګه پلي شوې نه دي. د بيلګې په توګه د پوليسو او ملی امنيت لخوا د توقيفيانو د توقيف د وخت حد (قانونی معياد)، د څاروانول لخوا تحقيق او د صورت دعوا تيارولو کې قانونې معياد په نظر کې نيول ، د هغو شواهدوعمومي ممنوعيت چې د شکنجې په زور د عدلي تعقيب او يا د محکوم کولو له پاره لاس ته راغلي وي او د مدافع وکيل ته لاس رسی.

د ولسمشر ۱۲۹ ګڼه فرمان او نورو اجرااتو دا ښودلې ده چې د افغانستان حکومت د شکنجې او ناوړه چلند له منځه وړلو له پاره جدي دی. له دې سره سره نورو اجرااتو ته ضرورت دی چې د شکنجې ممنوعيت قوي کړي او حساب ورکول نور هم ښه کړي چې د شکنجې کارول په مکمله توګه له منځه يوسي او مخنيوي يې وکړي.

دا ډول اقدامات لکه څرنګه چې د دې راپور د سپارښتنو په برخه کې ورته اشاره شوې ده ، د شکنجې د منخنيوي په خاطر د مخنيوی ملي ميکانيزم (اين پي ايم) جوړشي چې لکه څنګه چې د *شکنجې ضد کنوانسيون او د ظالمانه ، غير انساني او تحقيرکونکي چلند او يا سزا* اختياري مسوده ( پروتوکول) کې وړاندې شوې دی ، د قانوني اجرااتو مکلفيت په ذريعه د د جنايي تفشيش غښتلي کول ، د شکنجې د ثبوتونو مستندسازۍ له پاره موثر پروتوکول جوړول اوپلي کول چې په خپلواک ډول ورکړی شوي طبي ثبوتونه او د عدلي طب په اړوند مناسبه تجربه هم پکې شامله ده او د دې ډاډ ورکول چې قضايي او د اداراتو اجراات به له مرتکبينوڅخه حساب واخلي.

### د افغانستان د توقيف خونو له توقيفيانو سره د شکنجې او ناوړه چلند دوام

#### د ملي امنيت عمومي رياست

د يوناما موندنې ښيي چې د ۶۱۱ توقيفيانو له جملې نه چې د فبرورۍ مياشتې ۲۰۱۳ کال نه تر ديسمبر مياشتې ۲۰۱۴ پورې موده کې ،مرکې ورسره شوې وي او د ملي امنيت په مختلفو توقيف خونو کې توقيف شوي وو ، ۱۶۱ يې (۲۶ سلنه) له شکنجې او ناوړه چلند سره مخ شوي وو[38].

توقيفيانو له سختو وهلو ، برقي شاک ، ځوړندلو ، سترې کيدونکې وضعيتونو او د جنسي تيري له ګواښونو سره مخ وو.

يوناما د ملی امنيت په درې ولايتونو کابل ، کندهار او تخار توقيف خونو کې په منظم او دوامداره ډول د شکنجې د کارونې په اړوند کافي کره او موثق شواهدو مستند کولو ته ادامه ورکړه[39].

---

[37] د جزايي اجرااتو قانون په پينځمه مۍ ۲۰۱۴ کال کې خپور شو او په پينځم جون ۲۰۱۴ کې تصويب شو او د جزايي اجرااتو موقتي قانون ځای يې ونيو.

[38] د يوناما په ۲۰۱۳ راپور کې راغلي دي چې د ۵۱۴ توقيفيانو له جملې چې مرکې ورسره شوې وې او د ملي امنيت کې توقيف شوي وو ، ۱۷۸ (۳۵ سلنه) يې شکنجه شوي وو. يوناما دا په ګوته کوي چې د نظارت په دوو دورو کې د توقيف ځايونو ځانګړيو کوچنې بيلګو پرتله د توقيف ځايونو ځانګړې مالومات/ډېټا ډېره قاطع نه دی. په تيره بيا يوناما ډېر احتياط نه کار اخلي کله چې د کابل او کندهار توقيف خونو ډېټا له يو بل سره پرتله کويه چې د تيرونې حد ډېر زيات دي او د دې وجه داده چې ددواړو د ولايتونو د توقيف خونو څخه اخيستل شوې نمونې ډېرې کوچني دي. له دې امله دا نتيجه چې د توقيف په دې ځايونو کې د شکنجې پيښې ډېرې کمې شوې دي ، د هغه ډېټا چې موجوده ددې خبرې ملاتړ کوي. سربيره پر دې ، يوناما د پلچرخي زندان او په کابل کې د ماشومانو د اصلاح او تربيت مرکزکې ډېرو توقيفيانو سره مرکې وکړې. دا توقيفيان د ملي امنيت عمومي رياست په ۴۰ او ۱۲۴ رياستونو کې توقيف شوي وو او د دوي بيا زندان ته انتقال شوي وو او ددې توقيفيانو اړوند يوناما د شکنجې ډېرې پيښې هغه وخت مستند کړې کله چې دوي د ملي امنيت په ۱۲۴ او ۴۰ رياستونو کې ډېر شکنجه شوي وو. هغه توقيفيان چې د د ملي امنيت په ۱۲۴ او ۴۰ رياستونو کې توقيف شوي وو او عموماً ورته لاس رسی نه و او د مامورينو څخه يې جدا ساتل شوي وو کومو چې دوي ته د توقيف په دې دوو ځايونوکې ه شکنجه ورکړې وه. دوي بيا زندان ته انتقال شول او دوي کولای شول چې دپرته له کومې ويرې د خپلې شکنجې راپور ورکړي. د ۲۰۱۴ کال په ډيره برخه کې يوناما ډېر توقيفيانو سره چې د ملي امنيت په ۱۲۴ او ۴۰ رياست کې وو او زندان ته د انتقال نه مخکې ، مرکې وکړې. او د شکنجې ډېرې کمې ادعاګانې يې له دې توقيفيانو څخه واوريدلې چې دا دې ښکارندويي دی چې ښايي د ملی امنيت کارمندانو ته ګواښ کړې وي چې يوناما سره د شکنجې په اړوند خبرې ونه کړي. څرنګه چې هدا توقيفيان د ملي امنيت په توقيف کې وو او په همغه توقيف خانه کې ساتل کيدل ، ددې ويره چې ددوي په خلاف به د انتقام په ډول د شکنجې نه کار اخيستل شوی وي.

[39] د دې راپور د " څيړندود " برخه د "د منظم او موجود " او " سيستيماتيک " شکنجې او ناوړه چلند کارول په يو ځانګړې د توقيف خونه کې. دا راپور دا نه وايي چې د شکنجې او ناوړه چلند کارول د حکومت د ملی او اداري کړنلارې يوه برخه وه.

په کابل کې د ۱۲۱ توقیفیانو له جملې نه چې مرکې ورسره شوې وې او په یوه او یا نورو دریو توقیف خونو په تیره بیا د ملي امنیت ۱۲۴ او ۴۰ ریاستونو او د ملي امنیت د کابل ولایتي توقیف خونه کې توقیف شوي وو ، ۳۶۲۸ توقیفیانو (۳۲ سلنه) له شکنجې او ناوړه چلند سره مخامخ شوي وو او شکنجې او ناوړه چلند ډیرې پیښې د ملي امنیت په ۱۲۴ ریاست کې منځ ته راغلې وې[40]. د ملي امنیت په ۴۰ ریاست کې[41] د شکنجې او ناوړه چلند پیښې ډیرې کمې لیدل شوې وې که څه هم د ۷۳ توقیفیانو له جملې نه چې مرکې ورسره شوې وي ، ۲۹ توقیفیان یې د ملي امنیت ۴۰ ریاست ته انتقال نه مخکې د ملي امنیت په نورو توقیف خونو کې د شکنجې او ناوړه چلند سره مخ شوي وو. له ۳۳ توقیفیانو جملې نه چې مرکې ورسره شوې وې ، نهه توقیفیان (۲۷ سلنه) یې د ملي امنیت د کابل ولایتي توقیف خونه کې له شکنجې او ناوړه چلند سره مخ شوي وو.

په کندهار کې یوناما د ملي امنیت ولایتي توقیف خونه چې د کندهار په ښار کې موقعیت لري ، د شکنجې پیښې مستند کولو ته ادامه ورکړله. خو د شکنجې او ناوړه چلند ډیرې پیښې په ولسوالیو کې د نیولو په وخت او د ولسوالیو توقیف خونو کې د تحقیق په وخت او دولایتي توقیف خونې ته د انتقال نه مخکې منځ ته راغلې دي. د بیلګې په توګه ، د ۱۲ توقیفیانو له جملې نه چې مرکې ورسره شوې وې ، اته توقیفیان یې چې د ملي امنیت د سپین بولدک په ولسوالۍ کې توقیف او شکنجه شوي وو[42].

د یوناما موندنې ښیي چې په تخار ولایت کې د ۲۸ توقیفیانو له جملې نه چې مرکې ورسره شوې وې ، لس توقیفیان (۳۶ سلنه) یې له شکنجې او ناوړه چلند سره مخ وو.

یوناما په فراه ولایت کې د ملي امنیت لخوا په سیستیماتیک ډول د شکنجې کارولو پیښې مستند کړې دي. د ملي امنیت لخوا د توقیف شویو ۳۹ توقیفیانو له جملې نه چې یوناما ورسره مرکې کړې دي ، ۲۰ توقیفیانو یې (۵۱ سلنه) د تحقیق له پاره کارول شوي طریقو په اړوند تفصیلي راپورونه ورکړل چې دا طریقې شکنجې او ناوړه چلند ته ورته دي.

یوناما د ملي امنیت د ولایتونو او ولسوالیو په کچه په توقیف خونو کې په ۱۹ ولایتونو کې د شکنجې او ناوړه چلند ۷۱ نورې پیښې هم مستند کړې[43].

د ملي امنیت لخوا د توقیف شویو ۱۶۱ توقیفیانو له جملې نه چې له شکنجې او ناوړه چلند سره مخ شوي وو ، د ۲۵ توقیفیانو یې (چې ۱۶ سلنه کیږي) ماشومان وو او عمرونه یې د ۱۸ کلنو څخه کم وو.

**افغان ملي پولیس**

د فبروری ۲۰۱۳ نه تر دیسمبر ۲۰۱۴ پورې موده کې یوناما کافی کره او موثق شواهد تر لاسه کړل چې ۳۰۲ توقیفیانو له جملې نه چې یوناما ورسره مرکې کړې وې او د افغان ملي پولیسو او افغان سرحدي پولیسو په مختلفو توقیف خونو کې توقیف شوي وو ، ۹۳ یې (۳۱ سلنه) شکنجه شوي او یا ناوړه چلند ورسره شوی وو[44].

---

[40] یوناما ته دا مالومه شوه چې د ۷۵ توقیفانو له جملې ۲۶ (۳۵ سلنه) یې چې د ملي امنیت په ۱۲۴ ریاست کې توقیف شوي وو ، د خپلې څارنې په موده کې د تحقیق د طریقو په هکله کافي کره او د ډاډ وړ راپورونه وکړل چې د تحقیق طریقو ته شکنجه ویل کیدای شوه..

[41] د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ میاشتې میاشتې څخه تر دیسمبر میاشتې تر ۳۱مم پورې کې د ملي امنیت په ۴۰ ریاست کې یوناما د ۴۰ توقیفانو له جملې نه د ۱۹ توقیفیانو د شکنجې او ناوړه چلند پیښې مستند کړې وي ، خو د اولې جنورۍ نه تر ۳۱ دیسمبر ۲۰۱۴ موده کې یې یوناما ۷۴ توقیفانو له جملې نه د څلورو توقیفیانو د شکنجې او ناوړه چلند پیښې مستند کړې.

[42] یوناما له ۳۰ توقیفیانو سره مرکې وکړې چې د ملي امنیت د کندهار په ولایتي توقیف خونې کې توقیف شوي وو. ددوي له جملې نه ، څلورو یې د کندهار په ملي امنیت کې د شکنجې کافي کره او د ډاډ وړ راپورونه ورکړل. د ۲۶ توقیفیان د ملي امنیت د کندهار ولایتي توقیف خونه کې د شکنجې او ناوړه چلند راپورونه ورنه کړل ، خو ددوي له جملې نه ۱۳ توقیفیان (۵۰ سلنه) یې بیا د ملي امنیت د کندهار د توقیف ځای ته د انتقال نه مخکې د ملي امنیت یا ملي پولیس او یا هم د ملي اردو د ولسوالیو د توقیف ځایونو کې شکنجه شوي او یا ورسره ناوړه چلند شوی وو.

[43] دویمه نقشه وګورئ.

[44] یوناما په خپل د ۲۰۱۳ کال راپور کې د ۲۸۶ توقیفیانو له جملې چې مرکې ورسره شوې وې ، د شکنجې ۱۲۵ پیښې (۴۴ سلنه) مستند کړې وي. دا توقیفیان د ملي پولیسو او سرحدي پولیسو د توقیف په خونو کې توقیف شوي وو.

د شکنجې موجوده ډولونه چې د افغان ملي پولیسو لخوا کارول شوي عبارت دي له وهلو ټکولو په ځانګړي ډول د پښو په تلو ، اندامونو ، مټونو ، اوږه او سینه باندې ، برقي شاک ، ځړول ، ترډیر وخته جبري درول ، په مشکل حالت کې ساتل لکه په کرتو درول او کښینول او بهر په ډیره سړه هوا کې تر ډیرې مودې درول او په جنسي تیري تهدیدول.

د افغان ملي او سرحدي پولیسو لخوا د شکنجې او ناوړه چلند مستند کړې شوو پیښو څخه چې ۹۳ وې ، ۴۴ (چې کابو د ۹۳ نیمایی کیږي) یې په کندهار ، بغلان او هرات ولایتونو کې رامنځته شوې دي.[45]

په کندهار ولایت کې یوناما د ۳۳ توقیفیانو سره مرکې کړي چې د هغې له جملې څخه د ۱۹ یې (۵۸ سلنه) د شکنجې پیښې مستندې کړي. توقیفیانو ویلي چې اول د پولیسو په حوزه کې یا د ولسوالۍ په کچه توقیف خونو کې ترې پلټنې شوي او شکنجه شوي. په ځانګړي ډول په زیړۍ ولسوالۍ کې (چیرته چې د یولس توقیفیانوڅخه اته یې شکنجه شوي) مخکې له دې چې ولایتي توقیف خونو ته انتقال شي.

یوناما د اعتبار وړ راپورونه ترلاسه کړي[46] چې د اوسني نظارت پرمهال د ۲۶ نه زیات کسان په اجباري ډول ورک شوي چې ویل کیږي د ملي پولیسو له خوا په کندهار کې توقیف شوي وو. او د دوي حالت لا تراوسه نامعلوم دې. ددوي نه علاوه په کندهار کې د پولیسو لخوا یو تعداد د ماورای عدالت وژنو د اتهاماتو راپورونه هم ورکول شوي دي.

په بغلان ولایت کې یوناما د ۲۳ توقیفیانو سره مرکې کړي چې د هغو له جملې نه یی د شکنجې او ناوړه چلند۱۲ پیښې ثبت کړي دي. په هرات ولایت کې د ۱۹ توقیفیانو له جملې څخه ۱۳(۶۸ سلنه) یې د شکنجې او ناوړه چلند سره مخ شوي دي. یوناما ددې نه پخوا په نوموړو ځایونو کې د شکنجې او ناوړه چلند دومره لوړې پیښې هیڅ وخت ثبت کړې نه دي.

یوناما د ملي او سرحدي پولیسو لخوا د شکنجې او ناوړه چلند ۴۹ پیښې مستندې کړې چې ۱۸ پیښې یی په نورو ولایتونو کې رامنځته شوې دي.

یوناما د خپل نظارت په اوسنۍ مرحله کې موندلې ده چې د شکنجې پیښې د ولسوالۍ په توقیف خونو کې زیاتې شوي او غیر مرکزي شکل یی غوره کړې چې زیاتر په وړو توقیف خونو کې ترسره رسیږي چیرته چې یوناما او نورې ادارې د نا امنۍ په وجه لاس رسی نه لري.

**افغان سیمه ییز پولیس او افغان ملي اردو**

یوناما د ۲۰۱۳ کال د فبرورۍ د میاشتې نه د ۲۰۱۴ کال د دیسمبر میاشت پورې د ۴۲ توقیفیانو سره چې د سیمه ییزو پولیسو له خوا نیول شوي وو مرکې کړې دي. او د شکنجې او ناوړه چلند ۲۲ پیښې یې ثبت کړې دي چې په کافي اندازه د شکنجې نښې په کې موجودې وې. چې د هغو له جملې څخه ۱۲په بغلان ، دایکندي ، کندوز او پکتیکا ولایتونو کې پیښې

---

[45] دوهمه نقشه وګورئ.

[46] ( د ټولو خلکو ساتنه د اجباري ورکیدو پر خلاف نړیوال کنوانسیون) ورکیدل داسی تعریفوي: (اجباری ورکیدل په دوهمه ماده کې) نیول ، توقیف ، اختطاف او په هر بل ډول د ازادۍ نه محرومیدل ددولت له چارواکو لخوا ، افرادو او یا د افرادو له کومې ډلې لخوا چی یا خو ددولت په اجازه ، ملاتړ یا ددولت په خوښه عمل کوي یا د دولت وروسته د ازادۍ د محرومیت نه بی اعتنایی کوی یا د ورک شوی کس د سرنوشت او یا د هغی د ساتنی ځاي پټوي چی هغه د قانون د ملاتړ نه باهر پاتې کیږي په داسې حال کې چی افغانستان نوموړی کنوانسیون امضا او تصویب کړی نه دی. اجباري ورکیدل یو ممنوعه عمل ګڼل کیږي په نړیواله جزایي محکمه یې افغانستان د هغی سره ملحق دی د بشریت خلاف جرم وګڼل شي او همدا رنګه د بشر حقونو په عام اصولو په اساس ممنوع ګڼل شوی ده. دا د سره صلیب نړیوالې کمیټې د مطالعې په بنیاد د داخلي او نړیوال جنګونو کې هم ممنوع ګڼل شوی (۹۸ ماده) ډیرو سرچینو له یوناما سره خپل تشویشونه شریک کړي او ویلی چی ممکن بعضی توقیفیان وروسته له هغی چی د پولیسو لخوا نیول شوی وژل شوی وی یوناما د ۸۱ توقیفیانو چی د افغان ملی پولیسو لخوا نیول شوي ورکیدلو باوري راپورونه د کال ۲۰۱۳ جنورۍ کی مستند کړي دي.

شوې دي.[47] په نومړې موده کې يوناما د سيمه ييزو پوليسو له خوا د توقيفيانو له محکمې پرته د وژنو څلور پېښې په فراه اوهرات ولايتونو کې ثبت کړې دي.[48] يوناما کره راپورونه تر لاسه کړي چې په ارغنداب ولسوالۍ کې سيمه ييزو پوليسو دوه توقيفيان چې عمرونه يې له اتلس کلنو څخه کم وو ، له محکمې پرته وژلي دي.[49]

يوناما د ملي اردو په توقيف خونو کې د ۶۰ توقيفيانو سره مرکې کړې او دايې موندلې ده چې د هغو له جملې څخه ۲۰ توقيفيان يې (۳۳ سلنه) شکنجه او ناوړه چلند ورسره شوی دی. د ذکر شوو ۶۰ توقيفيانو څخه ۳۳ يې د کابل نه بهر نيول شوي چيرته چې د شکنجې او ناوړه چلند ټولې ۲۰ پيښې (۵۸ سلنه) واقع شوې دي.[50]

## دنړيوالو نظامي ځواکونو او ايساف لخوا امنيت ملي رياست ، افغان ملي پوليسو او افغان ملي اردو ته د توقيفيانو د ورسپارلو پروګرام نه نظارت

د يوناما د ۲۰۱۳ کال جنورۍ راپور نه وروسته ايساف د توقيف خونو د تاييد او معاينې پروګرام ته له سره کتنه وکړه چې د هغه افغاني توقيف خونو تعداد کم کړي چيرته چې نړيوال ځواکونه توقيفيان ليږدوي.[51] دغه اقدام د هيوادونو دهغه قانونی مسؤليتونو له مخې اخيستل کيږي چيرته چې د توقيفيانو د سپارلو نه وروسته دهغه حکومت په توقيف خونه کې دشکنجې احتمالي ويره موجوده وي د سپارلو څخه ممانعت کوي.[52]

نوې پروسه داسې ډيزاين شوې وه چې د ايساف توقيفيان بايد يوازې هغه افغاني توقيف خونو ته انتقال شي چې د نظامي اپراسيون غوښتنو سره برابر وي کوم چې د ايساف د زون په کچه قوماندانۍ لخوا طرحه شوې ده. نومړې توقيف خونې بايد د تفتيش او تاييد د پروسې نه تيرې شي او د ايساف قوماندانان بايد په پوره ډول باوري شي چې په دغه توقيف خونو کې د

---

[47] يوناما د ۲۰۱۳ په راپور کې موندلي چی د ۱۲ څخه ۱۰ توقيفيانو د خپلو مرکو په دوران کی ويلي چې دوي سره د افغان سيمه ييز پوليسو په توقيف کې شکنجه او يا د ناوړه چلند ورسره شوی ده. افغان سيمه ييز پوليس صلاحيت لري چی لنډ مهال لپاره کسان توقيف کړي (د کليو د امنيتي وضعيت ټينګښت لپاره ګزمې کوي) ليکن دوي څه صلاحيت يا قانوني واک نه لري چې څوک د ډيرې مودې لپاره ونيسي يا يی توقيف کړي. البته ددوي په طرزالعمل کې د لږې مودې لپاره د مضنون يا مشکوک نيول هم نه په سترګو کيږي د تفصيلاتو لپاره د افغان سيمه ييزو پوليسو د جوړښت طرزالعمل کال ۲۰۱۰ اګست او بيا په کال ۲۰۱۳ اګست کې تجديدشوی دی ، وګورئ.

[48] د فراه او هرات ولايتونو کې د کال ۲۰۱۳ نوامبر نه تر کال ۲۰۱۴ مۍ مياشتې پورې د يوناما پلټنې.

[49] د يوناما پلټنې ، د ۲۰۱۴ کال پسرلی.

[50] يوناما د کال ۲۰۱۳ راپور کې د امنيت ملي په توقيف خانو کې د ۳۴ بنديانو سره مرکې کړې چې د هغې له جملې څخه ۱۳ بنديان (۳۸ سلنه) ويلي دي چی دوی شکنجه شوي يا ناوړه چلند ورسره شوی. په اوسنی راپور کی د ۵۸ بنديانو څخه ۲۵ يې د ملی اردو په پروان (باګرآم) توقيف خونه کې ساتل شوي وو مرکې کړې او هيڅ توقيفی د شکنجې او ناوړه چلند راپور نه دې ورکړی.

[51] په ۲۰۱۱ کال سپتمبر کې ايساف هغه ۱۶ د ملي امنيت او افغانستان ملي پوليسو توقيف ځايونه ته د توقيفيانو استول بند کړي کوم چی يوناما د سيستماتيکې شکنجې توقيف ځايونه په توګه پيژندلي وو. همدا رنګه ايساف شپږم فيز د توقيف ځايونو د نظارت پروګرام جوړ کړی چې له مخې يې د افغاني توقيف خونو له چارواکو سره کومک کوي چې د بين المللي ځواکونو لخوا د توقيفيانو د ليږد نه مخکې د توقيفيانو سره د پلټنې او چلند اصلاح يقينې شي. ددې پروګرام له مخې بايد د توقيف خونو نه ليدنه او د توقيف خونو د مسولينو او توقيفيانو سره مرکې وشي چې د ملي امنيت او افغان ملي پوليسو په توقيف خونو کې د ناوړه چلند کړنو ته رسيدګي وشي. پدې پروګرام د توقيف خونو مديرانو او د پلټنو چارواکو او کارمندانو لپاره تربيوي سمينارونه چې د توقيفيانو سره د انساني چلند او غير اجباري پلټنو تخنيکونو زده کړو باندې متمرکز وو ، ورکړل شوي دي.

[52] د شکنجې د منع کنوانسيون دريم ماده: دولتونه پدې باندې مکلف دي چې په جبري ډول توقيفيان بل هيواد ته ونه ليږدوی. د هيڅ دولت يو توقيفي بل هيواد ته چيرته چې د شکنجې کيدو باوري راپورونه موجود وي چې دغه توقيفی هلته د شکنجې سره مخامخ کيږي بايد ونه ليږدوي). ددې نه علاوه کله چی يو توقيفي استول کيږي او هغه چارواکی ، توقيف خونه يا اداره په شکنجه او ناوړه چلند کې د خيله وی يا د توقيفي د ساتنی مناسب اقدامات ونلری بيا يی هم انتقالوي ، هيواد مسوليت لري چې هغه چارواکي چې د توقيفي د ليږد امر يا اجازه يې ورکړی يا واستوی بايد مجازات شي د شکنجی د منع کميټی عمومي بحث **CAT/C/GC/2** دوهم نمبر وګورئ: (د غړو هيوادونو لخوا د تطبيق دوهمه ماده) په کال ۲۰۰۸ د جنورۍ ۲۴ ، پراګراف دوهم- د ايساف د توقيفيانو د ليږد مقرره هم د نړيوال قانون سره برابره ده. توقيفيان بايد په هيڅ حالت کې هغه توقيفيانو ځايونو ته ونه ليږل شی چيرته چې د شکنجې او ناوړه چلند ويره موجوده وي. نړيوال ځواکونه بايد جدي نظارت وکړي دهغه افغاني توقيف خونو نه چيرته چې دوي توقيفيان ليږدوي په ځانګړی ډول هغه توقيف خونې چی په اړوند يې د شکنجې او ناوړه چلند راپورونه موجود وي هلته بايد د توقيفيانو ليږد ودروی تر څو چې د شکنجی د مخنيوي تضمين ورنه کړي او د شکنجې ادعاګانې بايد نومړي چارواکو ته د پلټنې لپاره راجع کړي.

توقيفيانو د ليږد نه مخکې شکنجه نه پېښيده. د تاييد د پروسې د يوې برخې په توګه ايساف د ځانګړو افغاني توقيف خونو کې د شکنجې د اتهاماتو په اړوند د ملي او بين المللي بشري حقونو ادارو او مدافع وکيلانو د ټولنو سره د صلاح مشورو د يو مکانيزم په چوکاټ کې مسلسلې ناستې درلودې.[53]

يوناما د اوسني نظارت په دوران کې د ۷۱ توقيفيانو سره مرکې کړې او دوي ويلي دي چې نړيوال نظامي ځواکونه يا نورې بهرنۍ امنيتي ادارې د دوي په نيولو او توقيفولو کې يا ملي امنيت ، يا افغان ملي اردو او يا افغان ملي پوليسو ته د توقيف لپاره په ليږلو کې يې لاس درلود.

د ذکر شوو ۷۱ توقيفيانو له جملې څخه ۳۶ کسانو وويل چې دوي يوازې د نړيوالو ځواکونو لخوا يا د افغان ځواکونو سره په ګډو عملياتو کې نيول شوي وو. د ۳۶ توقيفيانو له جملې څخه دوو کسانو چې يو يې په وردګو کې په کال ۲۰۱۳ کې د امريکا متحده ايالاتو ځانګړو ځواکونو په توقيف خونه کې او بل يې دهمدې کال د اپريل په مياشت کې په بغلان ولايت کې د متحده ايالاتو ځانګړو ځواکونو اړوند توقيف خونه کې د شکنجه کيدو په اړه باوري او موثق راپورونه وړاندې کړي دي. اړوندو چارواکو يوناما ته وويل چې د نوموړو اتهاماتو په اړوند پلټنې جريان لري.

د۳۶ توقيفيانو له جملې څخه دوو نورو د فراه ولايت د ملي امنيت رياست توقيف خونه کې وروسته له هغې چې د نړيوالو ځواکونو لخوا په کال ۲۰۱۳ د سيپتمبر او اکتوبر مياشتو کې ليږل شوي وو د شکنجې د ادعا معتبر موارد درلودل. البته هغه وخت د فراه ولايت ملي امنيت رياست توقيف خونه د ايساف د توقيفيانو د سپارلو د تاييد د پروګرام برخه نه وه.

پاتې نورو ۳۵ توقيفيانو ويلي چې دوي د افغاني ځواکونو له خوا د عملياتو په وخت کې نيول شوي چې د نړيوالو ځواکونو ملاتړ هم ورسره وو . يا خو نړيوالو ځواکونو د نيول کيدو په وخت شتون درلود او يا دوی مؤقتا د نړيوالو ځواکونو په توقيف خونو کې ساتل شوي يا نړيوالو ځواکونو ورڅخه پوښتنې او ګروېږنې کړې او يا يې د توقيفيانو د بايو ميټرک پروسه ترسره کړې ده.

يوناما د انتقال شويو ۳۵ توقيفيانو له جملي څخه ۱۶ (۴۶ سلنه) سره يې د ملي امنيت ، افغان ملي پوليس ، افغان ملي اردو او يا د سيمه ييزو پوليسو له خوا د توقيف په دوران کې د شکنجې او ناوړه چلند کره او باوري شواهد موندلي. ددغه توقيف خونو څخه ځينې يې د نړيوالو ځواکونو د استولو د تاييد د پروسې نه تير شوي او ځينې نور يې د ليږلو لپاره نه وې تاييد شوې. ډيرې پيښې په ۲۰۱۳ کال کې رامنځته شوې دي او په ۲۰۱۴ کال کې کمې پيښې ثبت شوې دي.

يوناما ددې جاج اخيستی چې د ايساف د تاييد پروګرام د توقيفيانو افغاني توقيف خونو ته د سپارلو په بهير کې په ځانګړي ډول هغه ځايونو کې چيرته چې د شکنجې ويره موجوده وه ، د ډيرو نړيوالو ځواکونو لخوا د توقيفيانو د ليږلو د مخنيوي د کوښښونو سره مرسته کړې ده. د دغه پروګرام له مخې يواځې يو څو توقيف خونو ته د توقيفيانو د استولو مخه نيول شوې ده چيرته چې د شکنجې څخه کاراخيستل شوې وو. چې دې کار سره د شکنجې د مخنيوي په هکله د افغان ملي پوليسو او د ملي امنيت د کارمندانو د پوهاوي د کچې په لوړولو کې مرسته شوې ده.

ايساف پروګرام لاندې په افغاني توقيف خونو کې د شکنجې او سپکاوي د اتهاماتو په اړه د ايساف قوماندان د مکتوبونو په ذريعه اړوند وزارتونو سره تفصيلي مالومات شريک کړي او د افغاني چارواکو څخه يې د مناسبو پلټنو غوښتنه کړې. ايساف

---

[53] يوناما او نورو ملي او بين المللي د بشر حقونوادارو د ايساف د توقيف خونو د کاري ګروپ په دوه مياشتنۍ او څلور مياشتنۍ غونډو کال ۲۰۱۳ او يو غونډه کال ۲۰۱۴ په سر کې ګډون کړی.

یوناما ته خبر ورکړی چې دوي کم داسې راپورونه ترلاسه کړي چې افغاني چارواکو د توقیفیانو د شکنجې او سپکاوي د اتهاماتو د تعقیب په اړه اجرات کړي دي.

دغه شان یوناما ته مالومه شوې چې د نظامي ځواکونو وضعیت تړون سوفا[54] (SOFA) د ایساف او د ناټو د ماموریت د دوام د ملاتړ په غرض چې د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ د لومړۍ نیټې څخه پیل کیږي ښه حکومتدارۍ او د قانون حاکمیت ته درناوی یې د بنسټیزو عناصرو څخه ګڼل کیږي.[55] خو د ایساف چارواکو یوناما ته ویلي چې د نوي ماموریت له مخې دوي د توقیف خونو د نظارت برخه نه دي. او د سوفا تړون لاندې بهرني ځواکونه د افغاني توقیف خونو نه د پلټنې حق نه لري. ایساف یوناما ته داهم ویلي چې د افغان ځواکونو د سلاکارانو له جملې به هیڅوک د افغان تروریزم ضد جګړوالو ځواکونو سره ګډو عملیاتو کې ګډون ته دوام ورنه کړي.[56]

یوناما په ډاګه کوي چې نړیوال قانون[57] د نړیوالوځواکونو څخه غوښتنه کوي چې د هغه عملیاتو پرمهال چې دوي ورسره وي د توقیفیانو سره د چلند نه نظارت وکړي او هم په خپلو ټریننګونو ، مشورو او د مرستو په فعالیتونو کې د شکنجې او د ناوړه چلند د مخنیوي په هکله کوښښونه شامل کړي.

## د شکنجې او ناوړه چلند د مخنیوي ، حساب ورکونې او د دولت وړتیا د ولسمشر د ۱۲۹ ګڼه فرمان د تطبیق په اړه ملي ظرفیت

یوناما د دولت کوښښونه د ولسمشر د ۱۲۹ ګڼه (دفبرورۍ ۱۶مه ۲۰۱۳ کال ) د تطبیق په اړه جاج کړی کوم کې چې اړوند ارګانونو ته حکم شوی چې د دولت د پراخه هلو ځلو د یوې برخې په توګه د شکنجې او ناوړه چلند د مخنیوي په غرض ځانګړي اجرات وکړي. داچه نوموړي اورګانونه دغه فرمان څنګه تطبیقوي او د شکنجې د مخنیوي او ختمولو په غرض د دولت تیاری او وړتیا دواړه سمبولیک اوعملي بڼه لري او په اینده کې د لازیاتو کوښښونو او اصلاحاتو ته اړتیا لري.

یوناما په ډاګه کوي چې د ولسمشر د ۱۲۹ ګڼه فرمان د حکومت د هلو ځلو چې د شکنجې د مخنیوي په اړه یې کوي یو ښه او پرځای اقدام دی. د دې فرمان ۱۲ مادې د یو بل سره تړاو لري او دا ښیې چې د مختلفو ادارو له خوا د شکنجې د مخنیوي په غرض یو لړ اقدامات لکه د حساب ورکونې ، وقایه ، قانوني تحفظ ، قانوني او طبي خدمتونو ته لاس رسی ، زیاته روڼتیا ، توقیف خونو ته د بهرنیو خپلواکو نظارتي ادارو لاس رسی او د نظارت لپاره د مکانیزمونو جوړول ضروري وو.

---

[54] د نظامي ځواکونو حالت تړون ( دناټو او دافغانستان اسلامی جمهوری دولت تر منځ د ناټو ځواکونو او ناټو کارمندانو دو طرفه تړون د ناټو فعالیتونو په اړوند په افغانستان کې ) چی د ناټو او افغانستان اسلامي جمهوري دولت تر منځ په کال ۲۰۱۴ ، سپتمبر ۳۰ امضا شوی او د افغانستان پارلمان لخوا په ۲۰۱۴ نوامبر ۲۷ باندې منظور شو. همدا رنګه د ۲۰۱۴ دسپتمبر په ۳۰ تاریخ په افغانستان کې د امریکا متحده ایالاتو سفیر او د افغانستان ولسمشر د امنیتي مشاور تر منځ دو طرفه امنیتي تړون امضا شو. (د افغانستان اسلامی جمهوری دولت او د امریکا متحده ایالاتو تر منځ د امنیت او دفاعي همکاری تړون) کوم چی په کال ۲۰۱۴ د نوامبر په ۲۷ د افغانستان پارلمان لخوا څخه منظور شو.

[55] دریم اساسي فعالیت — ملکي حکومتداري د افغانستان نظامي ځواکونو ادارو (افغان نظامي ځواکونه د خلکو خدمتګار دی) پریکنده ملاتړ یو ستراتیژیک شراکت د ایساف عامه اړیکو دفتر د کال ۲۰۱۴ د اکتوبر ۱۶ مه.

[56] د یوناما غونډه د ایساف سره کال ۲۰۱۴ د نوامبر ۳۰ مه.

[57] د دولت د نمایندګانو په حیث ، نظامي ځواکونه دا مکلفیت لري چې د بشري حقونو او نړیوال بشر دوستانه قانون احترام وکړي ، که څه هم د دوي هیواد دودیز نړیوال قانون او نورې پریکړې تصویب کړې وي یا نه. د بیلګې په توګه ، د ۲۰۱۱ کال د ال سکینې په قضیه کې د اروپایي ټولنې د بشري حقونو محکمې حتی د له اروپا د باندې په تیره بیا د عراق په ځینو سیمو کې چیرته واک د برتانیې ځواکونو په لاس کې وو ، د اروپایي ټولنې د بشري حقونو کنوانسیون پلي کیدل تایید کړ. لکه څرنګه چې په کورني قانون کې ، بې قانوني مانا دا نه ده چې یو عمل دې شوي وي ، بلکې د یوې تیروتنې له امله هم پیښدلای شي. له دې امله مکلفیت لرونکي باید د بشري حقونو څخه د سرغړونو په فعاله توګه او یا له مخکې نه مخنیوي وکړي. دا ډول مکلفیتونو اطلاق د ملګرو ملتونو په سوله ساتونکو ځواکونو او نړیوالو ادارو (لکه ناټو) باندې هم کیږي . د ډیرو لا نورو مالوماتو له پاره د ګبریل پوریټو او د سیلوین ویټې کتاب (د بشر دوستانه قانون تطبیق او د نړیوالو له پاره د بشري حقونو قانون) وګورئ.

دغه شان یوناما د شکنجې د مخنیوي په اړه د دولت د ظرفیت ارزونه کړې او هم يې په ځانګړي ډول هغه کوښښونه چې د حساب ورکونې او د شکنجې د مخنیوي په غرض د ولسمشر د ۱۲۹ ګڼه فرمان د ځانګړو مادو په چوکاټ چې دغه فرمان د شکنجې د موندنې او نورو اړوند مسایلو ته د کره څواب ویلو په مقصد خپور شوې وو ، ارزولي دي.[58] د بنیادي شاخصونو نه په ګټه اخیستلو سره چې د دولت اجراات د نوموړي فرمان د احکامو په عملي کیدو کې څومره مؤثر وو د یوناما موندنې دا ښيي چې د حکومت کوښښونه چې د شکنجې د مخنیوي په غرض يې په تیرو ۲۳ میاشتو په موده کې کړي ، دواړه یعنې ښې او بدې پایلې یی لرلې.

یو مثبت پرمختګ هغه موندنې دي چې یوناما د شکنجې ۷۹۰ پیښې د توقیفیانو سره کوم چې د افغان ملي امنیت ، افغان ملي پولیسو ، افغان ملي اردو او افغان سیمه ییزو پولیسو په توقیف خونو کې ساتل شوي  د مرکو په وخت ثبت کړې او په دغه راپور کې یې تفصیلات ورکړی شوي دي. دغه موندنې ښیی چې د شکنجې پیښې د تیر نظارت په پرتله ۱۴ سلنه کمې شوې دي. دغه کموالی کیدای شي د ملي امنیت او افغان ملي پولیسو د هغه کوښښونو نتیجه وي کوم چې د شکنجې او د ناوړه چلند د اندیښنو په اړه په ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کلونو کې ترسره شوي دي چې عبارت دي د شکنجې او ناوړه چلند په اړه د نوو کړنلارو او لارښودونو جوړولو ، د توقیف خونو څخه د بهرنیو مؤسساتو د متکررو لیدنو چې د ایساف او دغه شان د نورو نړیوالو همکارو ادارو لخوا شوي اقدمات چې د تحقیقاتو او پلټنو په غرض د متبادلو میتودونو او تکتیکونو په اړه متمرکزه ټریننګونو اود سي سي ټي وي (CCTV) څارګرو کامرو د تحقیق په ځینو خونو کې نصبول (د ملي امنیت ۴۰ ریاست ، کابل )[59]

هغه بحثونه چې د مستنطقینو ، د توقیف خونو د مدیرانو او د ملي امنیت د کارمندانو سره د شکنجې او دبشري حقونو د معیارونو په اړه په مکرر ډول سرته رسیدلي د دغو چارواکو د پوهاوی او وړتیا کچې د لوړ والي نورې مثبتې بیلګې دي[60] . یوناما و موندله چې توقیف خونې په ځانګړي ډول په ښارونو کې په متکرر ډول د بې طرفه ادارو له خوا معاینه شوي او دغه شان ملي امنیت او د افغان ملي پولیسو چارواکو د خارجي ناظرینو ته لاس رسی لرلی دی او هغوي سره یې زیات تماسونه نیولي دي.

## د شکنجې او ناوړه چلند په هکله د ملي امنیت او د افغان ملي پولیسو د چارواکو د حساب ورکونې نشتوالې

د ملي امنیت ، ملي پولیسو او ملي اردو لخوا د حساب ورکونې د نشتوالي دوام د ډیرې ناهیلي خبره ده لیکن د شکنجې د اتهاماتو په اړه په ځانګړې ډول پر وخت ، بې پرې ، خپلواک او هر اړخیزه پلټنو ، عدلي تعقیب او تأدیبي کړنو په هکله یوڅه

[58] ددې راپور څلورمه ضمیمه وګورئ. د ولسمشر ۱۲۹ ګڼه فرمان کاپي په توقیف خونو کبد شکنجې او ناوړه چلند د مخنیوی لپاره سپارښتنې کال ۲۰۱۳ فروری چې یوناما په تمرکز کړی دی هغه مادې چی یوناما پری تمرکز کړی په لاندی ډول دي: اوله ماده : ( محاکمه د داخلي نظارت میکانیزم او شکایات ، دوهمه ماده: (د شکنجی ممانعت ، مخنیوی اقدامات او ظرفیت لوړونه)، څلورمې او پنځمې مادې: (مدافع وکیل او حقوقی مرسته رسوونکو ته لاس رسی او توقیفیانو ته د حقوقی مرستو زیاتوالی د وزارت عدلیه لخوا)، شپږمه ماده: (توقیفیانو ته د طبی خدمتونو رسول).

[59] یوناما ښکاره کوي چې په شکنجه او ناوړه چلند کې د توقیفیانو سره ۱۴ سلنه کموالی راغلی دی چی دا مالومات د توقیفیانو سره ځانګړي توقیف خونو او ځانګړي وختونو کې د شویو مرکو پر مټ تر لاسه شوی دی- داسی هم توضیح کیدای شی چی هغه توقیف ځایونو کی چی یوناما ورته لاس رسی نه لری او کیدای شي چی هلته شکنجه زیاته شوي وي.

[60] ګڼو څارنوالانو او قاضیانو وویل چې د شکنې د ادعا په اساس عمل کول ګران دي ځکه د آفغانستان د اجرااتو جزا یي او نور قوانینو کې د شکنجې د ورکولو د جرم سم تعریف نشته. که څه هم په قانون کې شکنجه منع ده ، خو قانون د شکنجې واضح تعریف نه دی کړی. د شکنجې نړیوال تعریف چې د شکنجې ضد کنوانسیون کې ورکړل شوی دی ، تر اوسه د افغانستان قوانینو او کړنلارې کې ته  انتقال شوی نه دی. ددې سره سره ، د ا د نړیوال قانون عمومي اصول دی چې یو دولت د نړیوال قانوني مکلفیت نه په خبره نه شي خلاصولای چې دده په کورني قانون کې خالیګاه ده.

اجراات شوي دي. مهالنۍ خېړنو ښودلې ده چې د شکنجې او ناوړه چلند په اړه د ملي امنيت ، ملي پوليسو او ملي اردو د چارواکو له خوا په حساب ورکونه کې ډير لږ پرمختګ شوی دی.

د تيرو ۲۳ مياشتو د پلټنو په دوران کې يوناما د عدلي تعقيب يوازې يوه دوسيه ثبت کړې چې په هغې کې د ملي امنيت دوه کارمندان د توقيفيانو دشکنجې په اړه مجرم پيژندل شوي دي. د دغه فيصلې په پايله کې هر يو د متهمينو څخه د اتو مياشتو په بند محکوم شوي دي.[61] ملي امنيت يوناما ته خبر ورکړ چې په درې نورو پيښو کې د ملي امنيت کارمندانو له خوا توقيفيان وهل شوي وو د ملي امنيت د داخلي طرزالعمل له مخې پلټنې شوې او دوی منلې چې ناوړه چلند يې ترسره کړی. خو عدلي تعقيب لاندې نه دي نيول شوي.[62]

دغه شان د هغه افغان ملي پوليسو چارواکو په اړه چې د توقيفيانو سره د شکنجې او ناوړه چلند په پيښو کې دخيل اوسي د هغوی پرخلاف د تحقيقاتو ، عدلي تعقيب يا د تأديبي کړنو په اړه هيڅ ډول مالومات نه دي ورکړی شوي.

د ملي امنيت او افغان ملي پوليسو په توقيف خونوکې د شکنجې او ناوړه چلند يو تعداد کره پيښو د شتون سره سره د حساب ورکونې نشتوالي موجود دی. په داسې حال کې چې دغه پيښې د مسؤلو چارواکو سره د تيرو ۱۹ مياشتو په موده کې مطرح شوي دي. يوناما د ملي امنيت او افغان ملي پوليسو د چارواکو په اړه چې په هغو توقيف خونو کې ګمارل شوي چيرته چې د شکنجې او ناوړه چلند پيښې مستند شوي دي ، يو لست تيار کړی دی (د ملي امنيت د ولايتي رئيسانو ، د توقيف خونو مديرانو ، د تحقيق مديرانو ، د ولسوالۍ د پوليسو د قومانداناانو ، د پوليسو د توقيف خونو د مديرانو او د تروريزم مديرانو په ګډون). چې دا په عمومي ډول دا په ګوته کوي چې نومړو چارواکو د ۲۰۱۱ کال څخه د ۲۰۱۴ کال پورې په همغه ځايونو کې خپلو دندو ته دوام ورکړی.[63]

يوناما چې د کومو شاخصونو څخه په ګټه اخستلو حساب ورکونه ارزولې ده هغه د ولسمشر ۱۲۹ ګڼه فرمان لو مړۍ مادې سره سمون خوري. دغه شان د لويې څارنوالۍ هييت د پلټنو پايلې چې د شکنجې د اتهاماتو په اړه يې کړې وې وروسته ولسمشر لخوا د جنورۍ ۲۰۱۳ تاکل شوی د حقيقت موندنې هييت راپور چې په نتيجه کې يې ۱۲۹ ګڼه فرمان صادر شو.[64] او دغه شان نور شاخصونه چې يوناما ورڅخه په خپلو ارزونو کې ګټه اخيستې د ملي امنيت او افغان ملي پوليسو د داخلي پلټنې نتايج دي چې د شکنجې د اتهاماتو په اړه يې ترسره کړې دي. ملي امنيت او ملي پوليسو دعوه کړې چې له مخې يې

[61] ويل کيږي د کال ۲۰۱۳ په سپرلي کې د ايساف دوو افسرانو وليدل چې د ارزوګان په ترينکوت ولسوالۍ کې يو توقيفي د امنيت ملي د دوو افسرانو لخوا شکنجه کيږي. دغه پيښه څارنوالۍ ته راجع شوه او په ۲۰۱۴ کال اپريل په نيمايې کې محکمې ته ورسيده. دداخلي او خارجي امنيت څارنوال يوناما ته وويل چې د ارزګان ابتدايې محکمې د امنيت ملی دغه دوه افسران په اته ، اته مياشتو محکوم کړل او زندان ته واستول شول. دغه دوسيه د نظامي څارنوال لخوا چې ګواکې محکمه ورته کمه سزا تعين کړې ، سيمه ييزه نظامي محکمي کندهار ته انتقال شوه (يوناما دداخلي او خارجي امنيت څارنوال سره د ۲۰۱۴ مۍ په ۲۹ ارزګان کې غونډه درلوده). ددې راپور ليکنې تر وخته پورې ، يوناما ونه شوی کړای چې دغه مالومات له کومې مستقلې منبع څخه تصديق کړي.

[62] د راپورونو له مخې د توقيف خونې دوه کارمندان چې په شکنجه کې دخيل وو تبديل اوپه نورو وظيفو کې وګمارل شول. او دريم متهم تنبيه کړای شو چې په اينده کې د بشرى حقونو څخه سرغړونه ونه کړی د امنيت ملي راپور د ولسمشر ۱۲۹ ګڼه فرمان د تطبيق په اړوند کال ۲۰۱۴ ، نوامبر ۲۴ (راپور يوناما سره شته دي)

[63] د يوناما په ريکارډ کې يو تفصيلي ليست د ملي امنيت کارمندانو او افغان ملي پوليسو په شمول (چې ۲۰۱۱ کال تر ۲۰۱۴ پورې) د ملی امنيت ولايتي ريسانو ، د توقيف خونو مديرانو ، د تحقيق مديرانو ، دولسوالۍ د پوليسو د قوماندانانو ، د پوليسو د توقيف خونو د مديرانو او د تروريزم څانګې د مديرانو نومونه د يوناما سره په ليست کې دي. يوناما دا نه وايي چې نومووړو افغان ملي پوليسو او ملي امنيت چارواکو لخوا توقيفيان شکنجه او يا ورسره ناوړه چلند کړی بلکه شکنجه او ناوړه چلند په هغه توقيف ځايونو کی ترسره شوی دی چيرته چی دوي په وظيفه ګمارل شوي وو يا دوي اداره کوله او يا يې هم نظارت ترسره کولو

[64] په کابل- کندهار او هرات ولايتونو کی د ولسمشر د حقيقت موندوندونکې هييت (کال ۲۰۱۳ فرورۍ) په ولايتي توقيف خونو کې د شکنجې د اتهاماتو ۲۸۴ پيښې ثبت کړې دي. او په ۱۳۶ پيښو کې د شکنجې کره موارد موندلي دي ، ددغه هيت راپور خپور نه شو البته يوناما سره شته دی. ددې راپور دريمه ضميمه وګورئ او د د ولسمشر د حقيقت موونډونکې هييت د مطبوعاتي کانفرانس په کال ۲۰۱۳ ، فبرورۍ ۱۱ کې د خپلو پلټنو پايلې پکې مشخص کړې دي. ددې هيت د ۱۳۶ ثبت شويو پيښو څخه يې ۱۳۳ د شکنجې اتهامات دوباره خيړلي دي.

جزائی او تأديبي کړنې او هم د ملي امنيت او افغان ملي پوليسو په چوکاټ کې د شکاياتونو د اوريدنې د ميکانيزمونو فعاليتونه ترسره شوي دي.[65]

## دلويې څارنوالي هيئتونه ( ۲۰۱۳ )

يوناما په کال ۲۰۱۳ کې د لويې څارنوالۍ لخوا ګمارل شويو د دريو هيئتونو څيړنې چې د شکنجې د اتهاماتو په هکله يې ترسره کړې وې ، تعقيب کړې دي. د يوناما له نظره ددغه هيئتونو اړوند اتهاماتو ته رسيده ګې ددې ښکارندويي او نمايندګې کوي چې دشکنجې او ناوړه چلند په هکله روان يا موجوده جزايي عدلي سيستم ناکافي دي او په دې اړه نورو اصلاحاتو او منابعو ته اړتيا شته.

د يوناما موندنې ښيي چې ۱۳۳ پيښې د افغانستان د لويې څارنوالۍ د دريو هيئتونو لخوا بر رسي شوې چې ۷۸ دوسيې له دغه جملې څخه سمدستي حفظ شوي او پاتې۵۵ نورې يې ولايتي څارنوالانو بندې کړي او دوي د پلټنې مرحله د کومې دعوې د اقامه کولو او دعدلي بهير د تکميل پرته ختمه کړه.[66] يوناما مشاهده کړې چې د لويې څارنوالۍ د هيئتونو کار نقص درلود. هيئتونه مستقل او بې پرې نه وو او د غړو ترمنځ يې د مفاداتو ټکر موجود و او د شکنجې د ادعاګانو دثبوت او پلټنې په غرض د هيڅ ډول معياري ميتودولوژي (څيړندود) څخه ګټه نه وه اخيستل شوې او هم د افغانستان د ملي قوانينو څخه په پوره ډول په پيروي کولو کې پاتې راغلي وو چې د اثبات د حقوقي معيارونو او ستندردونو څخه د ناسمه ګټه اخيستنه پکې شامله وه. او نه يې هم دهغه تهديدونو او غچ اخيستنې په اړه پلټنې کړې چې هغه توقيفيان چې د شکنجې ادعاګانې يې کړې وې ، ورسره مخ شوي وو. او نه يې ددې مسئلې پلټنه کړې چې ولې ځينې توقيفيانود تحقيق د پروسې په دوران کې خپلې د شکنجې ادعا ګانې بيرته اخيستې وې.

دلويې څارنوالې د دفتر هيئتونو دغه شان يوازې د شکنجې د ثبوت په ډول د توقيفيانو په بدن د زخمونو او فيزيکي نښو په موجوديت بسنه کړې وه. دغه مشکل د توقيفيانو صحي خدمتونو ته د لاس رسی د نشتوالي ، د ولايت د صحت عامې رياستونو په کچه د شکنجې د ادعاوو طبي معاېناتو د معياري ارزيابي نشتوالی او ملي امنيت اود افغان ملي پوليسو په توقيف خونو کې د بې پرې طبي کارمندانو او معياري صحي خدمتونو نشتوالي نورې ستونزې وې.

يوناما موندلې ده چې زياته برخه يعنې ۲۷ سلنه د ټولو ۱۳۳ د شکنجې د اتهاماتو پيښې د لويې څارنوالۍ د هيئتونو لخوا په دې اساس چې د شکنجې اړوند زخمونه او علامات يې نه درلودل له پامه غورزولې دي.[67] دغه هيئتونو هيڅ توضيحات نه دي ورکړي چې څرنګه دغه نتيجې ته رسيدلي. کله چې يوناما د ملي امنيت له چارواکوسره د شکنجې مسئله مطرح کړې اکثرا

---

[65] يوناما د ملګرو ملتونو د قانون د حاکميت د هغه شاخصونو څخه چې د ملګروملتونو د امنيت ساتنې عملياتو ځانګې لخوا منظور شوي چې دغه د ملګرو ملتونو د بشر حقوقو د عالی کميشنرۍ په کال ۲۰۱۱ کې هم منظور کړي استفاده کړې. تفصيلاتو لپاره:
**www.un.org/en/events/peacekeepersday/2011/publications/unculeof lawindicators.pdf**
همدارنګه د تفصيلي کتنې لپاره د شاخصونو او پايلو لپاره ددې راپور اخير ته لاړ شئ.

[66] د افغانستان د پخواني ولسمشر د حقيقت موندونکې هييت د شکنجې او ناوړه چلند ۱۳۶ باوري اتهامات موندلي دي. د لويې څارنوالۍ هيتونه د ۱۳۶ څخه د ۱۳۳ اتهاماتو پلټنې کړي دي. د کال ۲۰۱۳ د اپريل نه تر مۍ پورې د هغو له جملې څخه ۷۸ لغو کړې دي او ۵۵ نور يې د تحقيقاتو له پاره اړوند څارنواليو ته راجع کړې. د کندهار لويې څارنوالۍ يوازې يوه قضيه اړوند څارنوالۍ ته د نورو پلټنو لپاره راجع کړې ده چې هغه هم د موظف څارنوال لخوا د پلټنو وروسته وتړل شوه. د هرات لويې څارنوالۍ يوازې دوه پيښې د نورو پلټنو لپاره اړوند څارنوالۍ ته وليږلې ، البته موظف څارنوال دواړه دوسيې وتړلې. په کابل کی ۳۹ دوسيې د داخلي او خارجی امنيت څارنوالۍ ته وليږل شوې او ۱۳ نورې يې د پوليسو څارنوالۍ يا نظامي څارنوالۍ ته وليږلې. د کابل لويې څارنوالۍ دفتر راپور ورکړ چې ټولې ۵۳ دوسيې وتړلې. په اخير کی هغه ټولې ۵۵ دوسيې چې د لويې څارنوالۍ هيتونو د نورو پلټنو لپاره اړوند څارنواليو ته ليږلې وې ، وتړل شوې.

[67] ددې راپور په وروستنۍ برخه کې د "لويې څارنوالي هييتونه" د کارونو د تفصيل او پايلو لپاره وګورئ.

دوي ويلي چې د توقیفیانو په بدن ټپونه د نیونې په وخت د مزاحمت په دوران کې رامنځته شوي. او دوي د ناوړه چلند او شکنجې (فیزیکي ټپونه) چې د پلټنې او تحقیق په وخت رامنځته شوي وي ، انکار کوي.

## د ملي امنیت او کورنیو چارو وزارت داخلي میکانیزمونه چې کافي نه دي

دملي امنیت او کورنیو چارو وزارت ویلي دي چې د شکنجې او ناوړه چلند د ادعاګانو د شتون په صورت کې د دوي کارمندانو نه لومړی باید د داخلي اداري میکانیزمونو له لارې پلټنې ترسره شي. یوناما په خپلو پخوانیو راپورونو کې روښتیا او ملي امنیت لخوا د خپلواک نظارت په شمول دداخلي تادیبي طرزالعملونو نشتوالي او په کورنیو چارو زارت کې څو غیر واضح داخلي پلټنو او د نظارت د میکانیزم د ضعف خبر ورکوي. دیوناما اوسنیو راپورونو له مخې د شکنجې د ادعاګانو د پلټنې په موخه د داخلي میکانیزمونو په چوکاټ کې کوم د پام وړ پرمختګ نه دې لیدل شوی.

دیوناما غوښتنې چې د شکنجې د ادعاګانو د پلټنې ، تأدیبي کړنې او د عدلي تعقیب په اړه د کورنیو چارو وزارت یا خو ډیر کم مالومات شریک کړي او یا غیر دقیق مالوماتو د بیروني اجرااتو ، جزائي پلټنې او تعقیب او یا داخلي تأدیبي کړنو په اړه ناسم مالومات شریک کړي .د بیلګې په توګه د وزارت چارواکو ویلي چې د ملي پولیسو په توقیف خونو کې لکه چې د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمیسون په راپور کې راغلي ، شکنجه نه ده پیښه شوې پداسې حال کې چې نورو د حقیقت موندونکو کمیسونونو د شکنجې دغه راپورونه تصدیق کړي دي. یوناما د ۲۳ میاشتو د څار په موده کې د شکنجې او د ناوړه چلند د ادعاګانو په اړوند هیڅ حساب ورکونه نه ده مشاهده کړې.

همدارنګه یوناما مشاهده کړې چې د کورنیو چارو وزارت شکایاتو میکانیزم په وزارت کې دننه د متوازي میکانیزمونو په وجه کمزوری پاتې شوی او تر ډیره کچه غیر مؤثر وو او استقلال او محرمیت یی نه درلود. هلته د شکایاتو میکانیزم (شکایاتو صندوقونه) موجود وو هغه توقیفیانو ددې ویرې نه چې خداي مه کړه وروسته د شکایت څخه ورته مشکل پیښ نه شي نه دې استعمال کړي او یا یې له سره ورته لاس رسی نه درلود.

د ۲۰۱۱ کال له پیل څخه ملي امنیت د بشر د حقونو د مدیرانو یو ټولی چې په پیل کې دوي یوازې په کابل کې کار کاوو خو د ۲۰۱۳ کال راپدېخوا د ولایتونو په کچه هم په وظیفه ګمارلي. دوې ددې صلاحیت لري چې د ملي امنیت د توقیف خونو نه نظارت وکړي او دشکنجې ادعاګانې د ملي امنیت د بشر د حقونو څانګې عمومي رئیس ته د ملي امنیت په ۴۷ ریاست کې وسپاري. همدارنګه دوی ابتدائي څیړنې کوی او د توقیفیانو ضرورتونو ته ځواب ووایي .په کال ۲۰۱۴ کې د ملي امنیت چارواکو یوناما ته ویلي چې د شکنجې هیڅ کوم ادعا چې د ملي امنیت په توقیف خونو کې چیرته چې دملي امنیت د بشر حقونو مدیران کارکوي ، نه ده رسیدلې. بلې خواته یوناما موندلې چې په لسو هغه توقیف خونو کې چیرته چې د ملي امنیت د بشرحقونو مدیران ګمارل شوي ، د شکنجې ۵۶ کره او باوري پیښې ثبت کړي دي.

دغه موندنې دا په ګوته کوي چې تر اوسه د بشر حقونو د مدیرانو ګمارنې هم د ملي امنیت په توقیف خونو کې د شکنجې مخه ونه نیول شوه. بنسټیز مشکل دادی چې د بشر حقونو مدیران خپلواک نه دي یا د ملي امنیت په چوکاټ کې اړین صلاحیت نه لري بلکه یوازې لوړپوړو چارواکو ته راپور ورکوي.

په مجموع کې د داخلي حساب ورکونې او مخنیوي میکانیزمونه لکه د کورنیو چارو د وزارت د تفتیش ریاست ، د جنډر او بشرحقونو ریاستونو لخوا د توقیف خونو څخه لیدنه او بشر حقونو د مدیرانو ګمارل چې د ملي امنیت د توقیف خونو نه نظارت وکړي د شکنجې په بندولو کې لږه اغیزه درلوده. اکثر لیدل شوي چې توقیفیان د ویرې او ډار له وجې د شکنجې او

ناوړه چلند پېښې د ملي امنيت يا افغان ملي پوليسو سره نه دي شريکې کړې ځکه چې دوي ويريدل چې خداى مکړه د نور تهديد ، تشدد او غچ اخيستنې سره مخامخ نشي.

د ملي امنيت او افغان ملي پوليسو د بشر حقونو مديران هم زړه نازړه وو چې څنګه د شکنجې او ناوړه چلند ادعاګانې چې ددوي همکارانو لخوا ترسره شوې ، په اړه يې راپور ورکړي او که نه ؟ حتی که کله دوي د توقيفيانو د شکنجې او ناوړه چلند پېښو راپور خپلو مقاماتو ته ورکړې هم دې ملاتړ او يا تعقيب يې نه درلود.

## طبي خدمتونو او مدافع وکيل ته د توقيفيانو د لاس رسی څخه انکار

يوناما همدارنګه د حکومت د ولسمشر د ۱۲۹ ګڼه فرمان د تطبيق څخه چې موخه يې د توقيفيانو لپاره په حقوقي بهير کې بهبود راوستل دي چې د شکنجې په صورت کې د شکنجې د تثبيت لپاره طبي خدمتونو او معايناتو او وکيل مدافع ته لاس رسې ولري ، نظارت کړی .

د ولسمشر د ۱۲۹ ګڼه فرمان له مخې طبي مسلکي پرسونل د توقيفيانو سره د شکنجې نه د کار اخيستنې په مالومولو او کره کولو کې اساسي رول لري. يوناما پخپلو پخوانيو راپورونو او اوسني راپور کې موندلې چې په ډيرو ځايونو کې توقيفيان چې کله شکنجه شوي دوي خو يا طبي خدمتونو ته د معاينې لپاره نه دي پريښودل شوي او يا يواځې په هغه حالت کې د طبي معايناتو اجازه ورکول شوې چې د شکنجې او ناوړه چلند فزيکي نښې نښانې يې په بدن درلودې. په افغانستان کې دغه حالت د شکنجې د مخنيوي کوښښونه ټکني کوي چې پوليس او عدلي قضايي چارواکي د شکنجې د ثبوت لپاره يوازې د شکنجې په فزيکي نښو باندې اتکا کوي.

يوناما داهم موندلې چې د ملي امنيت په توقيف خونو کې طبي پرسونل د شکنجې د پيښو په تثبيتولو او راپور ورکولو کې عملا خپلواک نه دي ځکه چې دوي د ملي امنيت توقيف خونې مدير ته راپور ورکوي او نورو اړوندو مناسبو چارواکو ته د شکنجې او ناوړه چلند مالوماتو د ورکولو صلاحيت نه لري.

د شکنجې د پلټنې او مخنيوي لپاره نړيواله بهترينه کړنه داده چې طبي کارمندان او عدلي طب ډاکټران بايد د عدلي قضايی ارګانونو ، امنيتي ادارو او د زندانونو د چارواکو نه مستقل وي ځکه چې د شکنجې د تثبيت په موخه د دوي د وظيفې غوښتنې او د چارواکو تر منځ د ګټو ټکر راتللی شي او همدارنګه دوي د خپلې وظيفې د لاسه ورکولو او يا غچ اخيستنې تشويش سره مامخ کيدای شي.

ددې پرته لکه څنګه چې د ملګرو ملتونو د شکنجې ځانګړې راپور ورکونکي روښانه کړې چې اکثر د شکنجې ورکولو طريقه داسې ډيزاين کيږي چې شکنجه بايد دردناکه او چې څومره ممکنه وي فزيکي نښې يې پاتې نه شي (لکه د فشار ورکونه ، د وهنې ټکونې ځيني هغه قسمونه چې توقيفيان د بې هوشې حالت ته رسوي ) او بعضې يې رواني حالتونه لري لکه جنسي ازار او اذيت او د توقيفي په مرګ ګواښل او يا د هغه کورنۍ په مرګ او نقصان رسونې باندې تهديدول شامل دي. نو پدې اساس د قانوني غوښتنو له مخې حکومت بايد ژر د هر قسم شکنجې د ثبوتونو د جمع کولو او معاينه کولو مؤثره تګلاره وضع کړې.

داهم ضروري ده چې باید روښانه شي چې د شکنجې تشخیص لپاره عموما ډېرې قیمتي تیکنالوژۍ او سامان الاتو ته ضرورت نشته بلکه مناسبو ټرېننګونو او د چارواکو ژمنتیا ته ضرورت دې چې د شکنجې د اتهاماتو هراړخیزه څېړنه یقیني کړي.[68]

په افغانستان کې اکثر د توقیفیانو لپاره طبي خدمتونه د افغان ملی پولیسو او ملي امنیت په چوکاټ کې دننه شتون لري او ورسره کوم خارجي نظارت موجود نه وي نو شکنجې تورونه باید پر وخت د مستقلې ارزونې لپاره د افغان ملي پولیسو او ملي امنیت د طبي خدمتونو څخه دې د باندې ولیږدول شي.[69] د ډاکترانو ، پولیسو او عدلي چارواکو لپاره د شکنجې د قربانیانو د طب عدلي ارزونې په موخه پرمختللې او لږ تر لږه پرنړیوال معیارونو ولاړ ټرېننګونه او راپور ورکونه هم د دولت دشکنجې د مخنیوی هلوځلو کې مرسته کولای شي.

یوناما دغه شان مشاهده کړې چې د ولسمشر ۱۲۹ ګڼه فرمان د خپریدو سره سره د توقیفیانو د نیولو او ابتدایي توقیف په موده کې مدافع وکیل نیولو ته د لاس رسي په برخه کې چندان بهبود نه دې راغلی. د قانوني مرستو په برخه کې محدوده پانګونه د افغانستان په کچه د جواز لرونکو مدافع وکیلانو کموالی او په ځانګړي ډول د شکنجې اړوند توقیفیانو ته د مدافع وکیلانو د لاس رسی نه انکار ، نورې پرتې جدي ستونزې دي.

په پایله کې ویلې شو چې که چیرته د ولسمشر ۱۲۹ ګڼه فرمان د خپریدو نه د حکومت هغه اجراات چې د شکنجې او ناوړه چلند د مخنیوی په برخه کې کوي یو څه بهبود په سترګو کیږي خو یوناما موندلې چې اوس هم د شکنجې د مرتکبینو لپاره د حساب نه ورکونه شتون لري. دحساب ورکونې په برخه کې د غه ناکامي غالبا دا معني لري چې شکنجه د ملي امنیت ، افغان ملي پولیسو او په نورو ډېرو دولتي توقیف خونو کې اوس هم شتون لري. هغه ډېرې د شکنجې ادعاګانې چې د لویې څارنوالۍ دفتر د هیئتونو ، پولیسو ، څارنوالانو ، قاضیانو ، د ملي امنیت او افغان ملي پولیسو چارواکو سره شریکې شوې ، یوناما مشاهده کړې چې یوازې یوه یې د عدلي تعقیب او یو څو نورو مرتکبینو د وظیفو څخه ګوښه کیدل په سترګو شوي.

یوناما بیا په دې ټینګار کوي چې دشکنجې له منځه وړل نه یوازې ښه ټرېننګونو ، پرله پسې نظارت او جدي لارښوونو غوښتنه کوي بلکې د حساب ورکونې اجراات د شکنجې په مخنیوي او بندولو لپاره ډېر اړین دي چې باید ترسره شي. د مخنیوي د مؤثرو لاروچارو اختیارولو نه پرته ، لکه د شکنجې د کارولو په صورت کې ویرول ، د جدي او مستقلې پلټنې دپروسې تطبیق او د جزایي تعقیب د یقیني کولو پرته ، افغاني چارواکي د شکنجې د بندولو لپاره بله چاره نه لري. د ولسمشر ۱۲۹ ګڼه فرمان په بشپړ ډول پلي کول ، د یوناما په اوسني او پخواني راپورونو کې راغلې مهمې سپارښتنې د حکومت د هغه کوښښونو لپاره چې د شکنجې د ختمولو او مخنیوی په لار کې د ملي او نړیوالو قوانینو په رڼا کې یې کوي د راتلونکې لپاره یو مسیر او د عمل لپاره یو پلان ټاکي.

## په هرات ولایت کې د افغان ملي پولیسو لخوا شکنجه او د حکومت مسولیت[70]

په ۲۰۱۴ کال د اپریل په دویمه نیټه ، افغان ملي پولیسو په هرات کې یو سړی په دې شک ونیو چې ګواکې د یو قاضي په وژنه کې چې دده د نیول کیدو نه دوه هفتې وړاندې پیښه شوې وه ، لاس لري. افغان ملي پولیسو دغه سړي لومړی په ښار کې د پولیسو حوزې ماموریت ته او بیا په همدغه ورځ د هرات د پولیسو قوماندانۍ د تروریزم ضد څانګې ته انتقال کړ.

---

[68] د شکنجې په اړوند د ملګرو ملتونو خصوصي راپور ورکونکي **Juan E. Mendez** راپور په کال ۲۰۱۴ اکتوبر، په دې لینک کې **www.un.org/en/ga/third/69/documentlist.shmt**/ وګورئ.

[69] پورتنې ماخذ.

[70] یوناما دغه پیښه د څو میاشتو په موده کې د یو درجن نه زیاتو مرکو له لارې چې د توقیفي ، د هغې خپلوانو ، مدافع وکیلانو ، قاضیانو ، افغان ملي پولیسو ، ملی امنیت کارمندانو ، څارنوالانو او د توقیف خانې چارواکو سره د هرات ولایت کې د ۲۰۱۴ کال د اګست نه تر دیسمبره پورې ترسره کړې دي ، تثبیت کړې ده.

يوناما كره او دقيق ثبوتونه تر لاسه کړي چې دغه سړي د پوليسو د حوزې او د پوليسو د تروريزم ضد څانګې په توقيف خونو کې د وهلو ټکولو ، برقي شاکونو ورکولو او د لاسونو او پښو د ګوتو د نوکانو د ويستلو په شمول په مختلفو شکلونو شکنجه شوی دی او بيا ددغه توقيفي ځخه په زور په ويډيوي بڼه اعتراف ثبت کړ. و هم يې ورځخه ليکلی بيان اخيستل شوې چې دده سره کوم زياتی يا شکنجه کارول شوې نه ده.

د ۲۰۱۴ کال ، د مې مياشتې په ۱۹ مه نيټه د هرات ولايت ښهري محکمې د عامه امنيت د ديوان لخوا دغه توقيفي د مرګ په حکم محکوم شو. داسې ويل کيدل چې د ښهري محکمې قاضي د متهم د مدافع وکيل هغه غوښتنه چې مؤکل يې شکنجه شوی او بايد دعدلي طب له خوا يې معاينه ترسره شي او دا اعتراف چې د شکنجې ادعا پکې موجوده ده ، دې لغوه شي ، رد کړ. قاضي په لاندې دلايلو سره د شکنجې د ادعا د نه څيړلو فيصله کړې ده:

متهم د محکمې پر وړاندې پر خپله خوښه اعتراف کړی. دپوليسو د راجستر کتاب چې د متهم د اعتراف پروخت موجود وو ددې ښکارندوي دی چې متهم په جسمي لحاظ روغ او جوړ وو او د پوليسو د تروريزم ضد څانګې مدير د هر ډول غير قانوني کړنو نه انکار کوي. قاضي وروسته وويل چې ده د متهم د نيولو څخه  شپږ هفتې وروسته د طبي معاينې حکم ورکړی  ليکن قاضي د طبي څيړنو راپور او پايلې ښکاره نه کړې.

يوناما ته ويل شوي چې د هرات د ابتدايي نظامي څارنوال(افغان ملي پوليسو څارنوال ) ويلي چې ده د ملي امنيت څارنوال نه په ليکلي بڼه غوښتي چې د توقيفي د ادعا د څيړنو پايلې بايد دده سره شريکې شي. البته د ملي امنيت څارنوال کوم ځواب نه دې تر لاسه کړی چې د راجع کولو او د طبي معاينې د راپور پرته د ملي امنيت څارنوال د پوليسو څارنوالۍ د شکنجې دغه دوسيه نه شي تحريکولای.

بل طرف ته د ملي امنيت څارنوال د دې پيښې پلټنې پيل نه کړې او نه يې هم دغه پيښه د څيړنې لپاره چې ګواکې شواهد موجود نه دي د پوليسو څارنوال ته ليږلې هغه د متهم مدافع وکيل ته دا هم ويلي چې که چيرته دشکنجې د ادعا شکايت وکړي نو د څارنوال لخوا به دعدلي تعقيب سره مخ شي.

د ۲۰۱۴ کال د نومبر په ۱۸ مه نيټه ، د استيناف محکمې د عامه امنيت ديوان په خپله پريکړه کې د ښهري محکمې فيصله تاييد کړه. ويل کيږي چې د مرافعې محکمې خپلې ليکلې پريکړې کې هم د شکنجې ادعا ګانو ته توجه نه ده کړې. يوناما ته د پريکړې جزيات نه دې ورکړی شوي. البته د استيناف محکمې رئيس ادعا وکړه چې هلې ځلې شوې دي چې د شکنجې ادعاګانې وڅيړي او د لومړۍ محکمې په کچه د خاليګاوو چاره وشي . خو  د استيناف محکمې رئيس د متهم د محاکمې نه مخکې يوناما ته وويل چې دده په باور متهم ځان پخپله زخمي کړی چې محکمې ته فريب ورکړي. د  هرات ولايت د استيناف محکمې د دولت پر ضد د جرمونو د ديوان  رئيس پوليسو د دولت ضد جرمونو څانګې رئيس يوناما ته ويلي دي چې د متهم په هغه دوسيه کې چې د هرات د ښهري محکمې لخوا دوی ته رسيدلې د طبي معاينې  هيڅ کوم راپور موجود نه وو نو پدې اساس  يې د طبي معاينې امر ورکړ(تقريبا اووه مياشتې وروسته دهغه چې شکنجه او د ناوړه چلند پيښه رامنځته شوې.

د بشري حقونو يوې ادارې چې دغه پيښه يې تثبيت کړې وروسته له هغې چې د ګواښ سره مخامخ شوی د پيښې  د عدلي تعقيب په خاطر د هلو ځلو نه لاس په سر شوې. همدارنګه طبي کارمندان د يوناما سره پدې اړوند مالوماتو شريکولو ته تيار نه وو.

## څه باید وشي!

یوناما یو ځل بیا حکومت ته پر خپل وړاندیز چې د شکنجې او ناوړه چلند د ختمولو په غرض  د یو ملي میکانیزم جوړلو څخه عبارت دی ټینګار کوي. د خپلواکه ناظرینو لخوا د هغو ځایونو چیرته چې انسانان د خپلې ازادۍ نه محروم وي باید پلټنه او معاینه وشي چې دا د شکنجې او نورو اړوندو بشري حقونو تیروتنو په مقابل کې د حساب ورکونې او دغه شان د توقیفیانو سره د انساني چلند په لور د پرمختګ لپاره اړین دي. د بشر حقونو نړیوال معیارونه اواغیزمنې کړنې د داسې میکانیزمونو لپاره ښه چوکاټ برابروي په ځانګړې ډول د شکنجې ضد کنوانسیون اختیاري مسوده (پروتوکول) او دغه شان د نورو ظالمانه غیر انساني او دسپکاوي نه ډک چلند او سزاګانو د شتون په صورت کې د غړو هیوادونو نه د شکنجې د مخنیوی د ملي میکانیزمونو د جوړولو غوښتنه کوي.

دغه د پلټنې د پوهانو جوړوښتونه باید ملي وي ، ددولت نه ازاد او د بشر حقونو د ملي ادراې سره همکاره اوسي او باید ټولو توقیف خونوته په ازادانه توګه لاس رسی ولري.  دغه شان د قانون له مخې باید د حکومت لخوا تمویل او دهر ډول سیاسې مداخلې نه مصئون اوسي.[71]

افغانستان د شکنجې ضد نړیوال کنوانسیون غړی هیواد دی لیکن تر اوسه یې د شکنجې ضد اختیاري مسوده ( پروتوکول) لاس لیک کړی نه دی. په اول قدم کې دولت او نړیوال مرستدویان (ډونران) باید یو میکانیزم جوړ کړي چې د توقیف خونو نه نظارت او معاینه تقویه شي. لکه څنګه چې ددغه راپور د سپارښتنو په برخه کې راغلي د شکنجې د مخنیوي لپاره باید کار وکړي.

د مخنیوي ملي میکانیزم  کیدای شي د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسون تر ملاتړ لاندې جوړ شي ترڅو د همغږي کونکي رول ولوبوي د ښه تمویل او نورو اړینو امتیازاتو د برابرولو په صورت کې کیدای شي دغه میکانیزم د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمیسون د اوسني امبوډزمین (له دولتي ادارو د خلکو د شکایتونو د غور او څېړنې مامور) ځانګې سره مدغم کړې شي. د شکنجې ضد کنوانسیون اختیاري  مسوده (پروتوکول) سره په همغږۍ د مخنیوی ملي میکانیزم د بشري حقونو ملي نهادونو په چوکاټ کې په ډیرو نورو هیوادونو کې په بریالیتوب سره ایجاد شوی دی. د توقیف خونو څخه د نظارت په غرض د یو تخصصي پلیټ فارم د جوړولو په خاطر د افغانستان دبشرحقونو خپلواک کمیسون موجوده وړتیا لا نورې تقویې ته ضرورت لري. نړیوال مرستدویان (ډونران) کولای شي چې دغه پلیټ فارم جوړ کړي. مناسب کارکونکي او پلټونکې وګماري او تربیه یې کړي او نورې مرستې هم ورته برابرې کړي.

یوناما او مدني ټولنې هم کولای شي په لومړنیو مرحلو کې د میکانیزم لپاره د موجوده متخصصینو (په مختلفو برخو لکه طب ، څیړنه او عدلي طب کې) په واسطه ملاتړ وکړي چې د هغوی فعالیت ډاډمن شي. نوموړي پلټونکي باید پیاوړي شي چې بشپړې پلټنې ترسره کړي او په باقاعده ډول دحکومت سره کار وکړي او وړاندیزونه تیار کړي چې څنګه کولای شو د توقیفیانو سره چلند او توقیف خونو حالت بهتر او د شکنجې او ناوړه چلند په اړه د شکایاتونو په راجع کولو سره حساب ورکونه یقیني کړي.

[71] هغه ملکونه چې اختیاري پروتوکول یې امضا کړی ده او د شکنجې د مخنیوي ملي میکانیزمونه یې جوړ کړي دي مثالونه یې په لاندې دول دي: البانیا ، کروشیا ، نیکاراګوا ، سربیا ، سلوانیا ، مقدونیه ، تیونس او ترکیه.

## کتنه

یوناما د حکومت جدي اقدامات په ګوته کوي چې د جګړې اړوند توقیفیانو سره یې د ۲۰۱۳ کال او ۲۰۱۴ کال په موده کې د شکنجې او ناوړه چلند له منځه وړلو په هکله کړي دي. او په دې کې د حکومت هغه کو ښښونه چې د ولسمشر د ۱۲۹ ګڼه فرمان د تطبیق په موخه یې ترسره کړي ، هم شامل دي چې د ۷۹۰ توقیفیانو سره مرکې ښیی چې په پایله کې د شکنجې او ناوړه چلند په پیښو کې ۱۴ سلنه کموالی راغلی دی. ددې سره سره د ۲۳ میاشتو په دې موده کې د حکومت اجراات تر حساب ورکونې پورې نه دې رسیدلي. خو بیا هم د شکنجې په پیښو کې د پام وړ کموالی منځته راغلي. البته د شکنجې کارول اوس هم دوام لري او د مرکه شوو توقیفیانو د یوپر درې تعداد پر ضد د شکنجې نه کار اخیستل شوی چې دا ددې خبرې ښکارندویي کوي چې هغه اقدامات چې تر اوسه په دې اړه ترسره شوي ، کافي نه دي. لا ډیرو هلو ځلو ته اړتیا ده چې د شکنجې له منځه وړلو لپاره معافیت ته د پای ټکی کیښودل شي.

د یوناما څیړنې څرګندوي چې افغانستان کې له ډیر مودې راهیسې د شکنجې څخه د اعتراف او مالوماتو د اخیستنې په موخه ګټه اخیستل کیږي . دغه کړنه کې د بدلون په غرض حکومت باید د خپلو نړیوالو شریکانو په ملاتړ په دوامداره توګه هلې ځلې جاري وساتي. د ۲۰۱۱ کال نه راپدیخوا حکومت او نړیوال همکارانو یی په تریننګونو ، عامه پوهاوی او دنظارت او پلټنې میکانیزم په تقویه کولو چې د شکنجې او ناوړه چلند د مخنیوي لپاره اړین دي خپلې هلې ځلې متمرکزې کړي. په دغه راپور کې د ۷۹۰ توقیفیانو سره شوې مرکې دا څرګندوي چې ددغه هلو ځلو په نتیجه کې په ځینې توقیف خونو کې د شکنجې د استعمال په مخنیوی کې پرمختګ شوی.

په هر حال ، په افغانستان کې په توقیف خونو کې په دوامداره توګه د شکنجې کارول هغه وخت په پوره ډول ختمیدای شي چې د ملي امنیت او د پولیسو کارمندان په دندو پاتې شي ، دا ځواکونه د نورو مسلکي کسانو د شاملیدلو له لارې غښتلی شي او د هغو کارمندانو تادیب کول ، څارنوالۍ ته معرفي کول او له دندو شړل چې دوي توقیفیان شکنجه کړي او یا یې ناوړه چلند ور سره کړی ، یا یې ترې سترګې پټې کړې دي او یا یې د شکنجې او ناوړه چلند ورکولو امر کړی وي نو د خپلواک او ملکي پلټنې او څار میکانیزمونو له لارې د حساب ورکونه رامنځ ته شي. قاضیان او څارنوالان د لاس ته راغلو ثبوتونو او شواهدو په ارزیابۍ کې مهم رول لري او همدارنګه د افغانستان اساسي قانون او د جزایي اجرااتو قانون د قضایي مراحلو د تکمیل ضمانت ورکوي. دوي به مسوول وي که چیرې قانوني تقاضو ته په احترام نه لرلو سره هغه ثبوتونه او اعترافات چې د شکنجې له لارې اخستل شوي وي باطل ، اعلان نه کړي.

شکنجه د افغانستان ملي او نړیوال قانون له مخې یو جدي جرم دی. یوناما یوځل بیا د ملي امنیت او افغان ملي پولیسو سره د مرکو په دوران کې موندلې چې دوي په دې باور نه دي چې شکنجه د استخباراتي مالوماتو د لاس ته راوړلو یا د تروریزم پر ضد په ستراتیژیکه مبارزه او د شخړو اړوند فعا لیتونو کې غیرقانوني ، ناکاره او غیر مؤثره وسیله ده. او دوي دا هم نه مني چې د افغانانو ژوند ساتلو لپاره د شکنجې ته اړتیا نشته او شکنجه د هیواد امنیت باندې خورا ناوړې پایلې لرلی شي.

په دې اړوند ، یوناما د د امریکا د متحده ایالاتو د سنا نوې منتخبې کمیټې د نهم دیسمبر ۲۰۱۴ کال استخباراتي راپور چې د یولسم سیپتمبر ۲۰۰۱ کال راپدیخوا امریکا د متحده ایالاتو استخباراتي ادارې (سي آی اې) توقیف او د پرمختللی تخنیکونو استعمال په هکله یوه ژوره څیړنه سرته رسولې وه. دا څیړنه ښکاره کوي چې د سي آی اې د پرمختللو پلټنو تخنیکونو استعمال د استخباراتي مالوماتو ترلاسه کولو او د توقیفیانو د مرستې جلب کولو لپاره مؤثره وسیله نه وه. دې څیړنې دا هم وښودله چې ګڼو توقیفیانو چې له دا ډول چلند سره مخ شوي وو ، دوي خپل مالومات له ځانه جوړکړل/دروغ

يې په کې وويل چې ددې پايله دا شوه چې راټول کړی شوي استخباراتي مالومات ناسم وو.[72] د راپور موندنې ښيي چې داسې کوم ثبوت نه و چې دا په ګوته کړي چې شکنجه ګټوره ده او ددې له امله ناسم مالومات راټول کړی شول او هغه داسې چې ځينې توقيفيانو  وويل چې دوي هر هغه څه وويل چې ددوي په اند يې تحقيق کوونکو له دوي نه اوريدل غوښتل ترڅو د دوي شکنجه ودرول شوي. دا موندنې د يوناما د راپور موندنو ته ورته دي او د يوناما راپور موندنې ښيي چې ډيرو توقيفيانو چې مرکې ورسره شوې وې وويل چې دوي د هر هغه جرم په کولو اعتراف وکړ او د تحقيق کوونکو له خوا چې هر ډول مالومات ددوي مخې ته کيښودل شول ، نو دوي ورته غاړه کيښوده او يوازې ددې لپاره چې دوي نور شکنجه نه شي.[73]

د ملګرو ملتونو ميکانيزم او معيارونه هم په دې تاکيد کوي چې د تروريزم دمخنيوي مؤثره لارې چارې بايد د بشرحقونو د مکلفيتونو سره برابرې وي. ددولتي چارواکو لخوا د توقيفيانو شکنجه او هغوي سره ناوړه چلند ملي امنيت نه تقويه کوي بلکه امنيت ته زيان رسوي.[74]

د جګړې اړوند توقيفيانو شکنجه ، دهغوي سره  ناوړه چلند او هغوي پخپل سرتوقيف کول ددولتي چارواکو لخوا نه يوازې د بشرحقونو جدي سرغړونه او جرم دی بلکه د سولې او پخلاينې د پروسې په لار کې لوی خنډ هم دی. دغه سرغړونې له يو اړخه د حکومتي ادارو او خلکو ترمنځ بې باوري زياتوي او بل اړخ ته په پخواني توقيفيانو او ټولنو کې افراطيت ته وده ورکوي.[75]

د ملګرو ملتونو د شکنجې د مخنيوی ميکانيزم او ماهرين تاکيد کوي چې د شکنجې ، ناوړه چلند او د اداري فساد ترمنځ ډيره ښکاره او واضحه تړاو شتون لري. دغه هيئتونو موندلې ده چې هغه ملکونو کې چې په لوړه کچه اداري فساد موجود وي هلته د شکنجې او ناوړه چلند د پيښيدو امکانات زيات وي او هم هلته ډيرې کمې پيښې ثبت او عدلي تعقيب لاندې نيول کيږي.[76] په افغانستان کې په پراخه پيمانه فساد په شمول د عدلي سکتور کې په ډير ډول ثبت شوی او منل شوي او د نوي ولسمشر اشرف غني هم دا منلې ده او د مخنيوي په  اړه يې ژمنه کړې ده.[77]

---

[72] په نهم ديسمبر ۲۰۱۴ کال کې دا راپور نشر شو او د آمريکا متحده ايالاتو د استخباراتو د سنا منتخبې کميټې په ويب سايټ کې په دې پته کتلی شئ. **www.intelligence.senate.gov/study2014.html**

[73] د امريکا د متحده ايالاتو د استخباراتو په اړه د سنا منتخبې کميټی د راپور لنډيز له نشر کولو وروسته ، ډيرو تکړه تحقيق کوونکي رامخکې شول او وويل چې د شکنجې په زور لاس ته راغلي مالومات کره نه وي ځکه چې توقيفي به هر هغه څه وواېي چې د شکنجې د دريدو لامل شي. او بله دا چې د شکنجې کارول يو هيواد ډير نه بلکې لږ خوندي ساتي. د سي آی اې د سکنجې راپور ځينې برخې په دې ويب سايټ کې وګورئ: **www.humanrightsfirst.org/sites/deafault/files/SSCI-torture-report-background.pdf**

[74] د ملګرو ملتونو نړيواله تروريزم ضد ستراتيژي او عمل پلان او د ملګرو ملتونود بشري حقوقو په مصونيت او پر مختګ او اساسي ازاديو او تروريزم پر خلاف د ځانګړی راپور برابرونکی راپور وګورئ. ادرس يی په دي ډول دی: **www.un.org/terrorism/terrorism.hr.shml**

[75] د طالبانو او ددولت نورو مسلحو مخالفينو ډلو ويلي چی دتوقيفيانو سره شکنجه او پراخه  په خپل سره نيونه د سولې په اړوند مذاکراتو مخنيوی کوي مثلا د طالبانو اعلاميه په کال ۲۰۱۳ ، جنوری ۲۸ وګورئ: (لکه څنګه چې د ملګرو ملتونو او نورو بشري حقونو ادارو لخوا يو ځل بيا دغه موضوع راپورته شوه دا يو ښه ابتدايي اقدام دی. ليکن ددغه ناوړه چلند د مخنيوي لپاره نورو جدي او پر وخت اقداماتو ته ضرورت دي. مفسد او ظالم چارواکي د بنديانو د قسمت سره لوبې کوي. په غلطو اتهاماتو بغير د کومې محاکمې توقيفيان تر ډيرې مودې پورې په زندان کې ساتل کيږی يا شهيدان کيږي چی دا  نه يوازې د انسانيت خلاف يو عمل دی ، بلکی د جينوا کنوانسيون او د ملګرو ملتونو د شکنجې د منع کنوانسيون څخه څرګنده سرغړونه هم ده. دا نه يوازې د نړيوال بشري حقونو ارزښتونو خلاف يو عمل دی بلکه د سولې په بهير کی يو ستر خنډ هم دی. د لوستلو لپاره لاندی ويب سايت وګورئ:
**www.shahamatenglish.com/index.php?option=comcontentview=articalid-20812for-how-long-untoward.conduct.with.the-prisoners-the-latesf-report-show-that-the-oppressed-prioner-catid=2:comments-itemed=3**

[76] د شکنجې د مخنيوي د ذيلي کميټې راپور کال ۲۰۱۴ ، اکتوبر ۲۱ په دي ادرس وګورې:
**http://www.Ohchr.org/en/hrbodies/opcat/pages/opcatindex.aspx**

[77] د ولسمشر اشرف غني افتتاحيه وينا د سپتمبر په ۲۹ ، کال ۲۰۱۴ کومه چې په لاندې ويب سايټ کې موجوده ده:
**http://president.gov.af/ps/news/36954**

يوناما تاكيد كوي چي حكومت د ملي او نړيوال قوانينو پر بنسټ مكلف دې چې ټول د شكنجې او نورو ناوړه چلند پېښې پر وخت وڅېړي ، مسؤلينو ته يې جزاء وركړي ، د شكنجې قربانيانو ته ځواب ووايي او د شكنجې او ناوړه چلند د نورو پيښو څخه مخنيوی وكړي. په هيڅ حالت كې پدې اړه د حكومت مسؤليت نه كميږي. پدې معنی چې كه د جنګ حالت وي يا د جنګ د ګواښ ورځې وي ، داخلي سياسي ناخوالې وي او نور ملكي بيړنې حالت وي ، شكنجه په هيڅ حالت كې نه شي توجيه كيدای.

د شكنجې ضد كنسوانيسون له مخې د افغانستان ملكفيت فسخ كيدای نه شي ، دا په دې مانا چې هيڅ يو استثنايي حالت چې هر څرنګه وي ، كه د جنګ حالت وي او يا د جنګ ګواښ وي يا داخلي سياسي بې ثباتي وي او بل كوم ډول عام اضطراري حالت وي ، شكنجه توجيه كيدای نه شي. د ملګرو ملتونو لپاره د بشري حقونو عالي كميشنر زيد راد الحسين وايي: " د شكنجې ضد كنوانسيون څخه هيڅوک خلاصيدای نه شي —نه شكنجه وركوونكي ، نه پاليسي جوړونكي ، نه هغه دولتي مامورين چې د كړنلارو تعريف كوي او يا د (شكنجې) امرونه وركوي." [78]

يوناما يوځل بيا د افغانستان په حكومت غږ كوي چې د شكنجې او ناوړه چلند د مخنيوي او له منځه وړلو لپاره جدي اقدمات ترسره كړي او د شكنجې د پيښو په اړه د محاسبې او مجازاتو څخه كار واخلي.

## د اوسني راپور د موندنو په اړه د افغانستان د حكومت ځواب

د يوناما د فبرورۍ ۲۰۱۵ كال د راپور د موندنو په غبرګون كې ، د افغانستان حكومت يو تفصيلي ليكلي ځواب د ۲۰۱۵ كال د فبرورۍ مياشتې په ۱۲مه د ملي امنيت شورا په مټ تيار كړ او دا ځواب د دې راپور په شپږمه ضميمه كې شته دی.[79] د حكومت ځواب په څلورو برخو ويشل شوی ( مقدمه ، د راپور ځواب په شمول د ملي امنيت ، د كورنيو چارو وزارت او د دفاع وزارت غبرګونونه ، د شكنجې له منځه وړولو لپاره تجويز شوي عملي پلان او پايلې).

---

كلک عزم ښكاره كړو چی د اداري فساد ، حقوق بشر ، امنيت ، دقانون حاكميت ګواښي او په قضايه قوه كې فساد بد امنۍ ته لاره هواروي (...) كه غواړی د قانون حاكميت پلي شي او لوړ پوړي چارواكي چې په فساد بوخت دي مجازات شي او قضايه قوه بايد پاكه او د اعتماد وړ وي (...). د حكومت بله مهمه ذمه وارۍ داده چې بايد موثر دولت او ښه حكومت داري را منځته كړي. يو موثره دولت او ښه حكومتداري د هر افغان پيدايشي حق دی (...) زمونږ خلک اداري فساد نور نشی زغملای. زه او زما حكومت پخپله د فساد خلاف جهاد شروع كړو (...) د نظامي ځواكونو په چوكاټ كې اداري فساد او د حكومتي ذرايعو بی ځايه استعمال يو د ناامنۍ د لاملونو څخه دی. قانون شكنی يو جرم دی او عاملين بايد قانون منګولو ته وسپارو ډيرو مفكرينو د افغانستان د تحقيق او ارزونې څانګی ، حكومتدارۍ په افغانستان كی د مارچ ۲۰۱۴ راپور وګورې: په كال ۲۰۰۷ جولای كی پوليس كه غله؟ د افغان په ملي پوليسو د اصلاحاتو يو كوشش د اداري فساد خلاف اداري ( Integrity Watch Afghanistan, Independent Joint Anti-Corruption Monitoring and Evaluation Committee and Transparency Perception Index د ۱۷۵ ډير مفسدو هيوادونو په كتار كی په كال ۲۰۱۴ كی په څلورم نمبر ارزولې ده ، د خارجي حكومت ادارو (څانګړيو سيګار د افغانستان د عمران مجدد لپاره څانګړی مفتش دفتر هغه اداره ده چی د امريكا متحده ايالاتو تمويل شوی پروژو نه نظارت كوي چی د بشر حقونه او د قانون ، (UNODCحاكميت فعاليتونه هم پكې شامل دي او د حكومت په چوكاټ كې اداری فساد په افغانستان كې : موجوده ستونزې مشخصې موندنې دسمبر ۲۰۱۶ په پراخه كچه اداري او ودانونكي اغيزې د اداري فساد په افغانستان كی ثبت كړيدی .دغه اداره هم په ګوته كړې چی اداری فساد نړيوال شفافيت راپور نمبر ۵ كال ۲۰۰۸) او واضح تړاو د شكنجه او اداری فساد لپاره وګورۍ. پنځم باب د شكنجه او نور ظالمانه غير انسانی ا تحقيراميز Cat/c/52/12 چلند او سزا ګانی د ذيلی كميتی اووم كلنی راپوركال ۲۰۱۴ مارچ په لاندی پته وګورئ:
http://tbinternet.ohchr.org/-layouts/treatybodyexternal/download.aspx?symblno=cat%2f52%f2dlang=en

[78] د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي كميشنر د ۱۰ ديسمبر ۲۰۱۴ مطبوعاتي بيانيه چې د شكنجې ضد كنوانسيون ديرشمې كليزې په مهال يې د شكنجې له منځه وړلو ضرورت ته اشاره كړې وه. په لاندې پته دا مطبوعاتي بيانيه كتلای شئ: www.ohchr.org/EN/NewsEvents/Pages/DisplayNews.aspx?NewsID=15405&LangID=E

[79] د افغانستان حكومت د يوناما د كالني راپور "د افغان توقيف ځايونو كې له د جګړې اړند توقيفيانو سره چلند ، د بشري حقونو څخه سرغړونه او حساب وركونه" په غبرګون كې ليكلي ځواب چې( ملی امنيت شورا دفتر ، د كورنيو چارو وزارت ، د ملي امنيت عمومي رياست او د ملي دفاع وزارت) غبرګونونه په كې شامل وو د ۲۰۱۵ كال د فبرورۍ مياشتې په ۱۲مه يوناما ته ورسيد. حكومت يوناما ته خپل ځواب په دري ژبه ليكلي وو او لكه چې څرنګه دملي امنيت د شورا دفتر سره موافقه شوې وه او دهغوې لخوا منظور شوې ، يوناما د حكومت ځواپ انګريزي ژبې ته وژباړه. د پوره متن لپاره ددې راپور شپږمه ضميمه وګورئ.

د افغانستان حکومت په ځواب کې وايي چې حکومت يې د اتباعو د بشري حقونو درناوي او رعايت کولو ته ژمن دی ، او ټول هغه مکلفيتونه سرته رسوي چې د اساسي قانون ، د هغو نړيوال تړونونو چې افغانستان يې غړی دی ، د اسلامي ارزښتونو ، اصولو او د افغانانو د کلتور پر اساس يې لري. دحکومت ځواب دا په ګوته کوي چې حکومت يو تکړه او باوري همکار دی او د ملي او نړيوالو ادراو سره کار کوي چې بشري حقونه پياوړي کړي او د توقيفيانو پر وړاندې د بشري حقونو څخه د سرغړونو مخنيوي وکړي.

د حکومت ځواب دا ښيي چې حکومت د يوناما په راپور کې "ځينې ادعاګانې او اندېښنې په ځای بولي" خو "په ډېرو ځايونو کې د يوناما د راپور له موندنو سره موافق نه دی". [80] د حکومت ليکلي ځواب کې د يوناما د فبرورۍ ۲۰۱۵ کال د راپور په تيره بيا د څېړندود په هلکه ددوي په اند نيمګړتياوو ته اشاره کړې ده. يوناما دا وايي چې حکومت په شمول د ملي امنيت عمومي رياست او د کورنيو چارو وزارت دا ډول تبصرې په کراتو له ۲۰۱۰ کال راپديخوا کړې دي ، يوناما رد کړې دي او په اوسني او پخواني راپورونو کې او همدارنګه له حکومتي چارواکو سره په ګډو ليدنو کې يې په بشپړ ډول دا موضوع څېړلې ده. يوناما يو ځل بيا ددې خبرې کلکه ادعا کوي چې ددې راپور د څېړنې ميتود په نړيوالو معيارونو او بهترينو کړنو ولاړ دی او د مالوماتو د تصديق او کره کتنې لپاره يې قوي ميتودونه کارولي دي. له دې امله ، يونا د خپل راپور په موندنو او سپارښتنو کلکه ولاړه ده.

حکومت په خپل ځواب کې کاږي "داد افغانستان د حکومت رسمي کړنلاره نه ده چې د دوي تر کنترول لاندې د توقيف ځايونو کې له توقيفيانو څخه د اعتراف او مالوماتو اخيستلو په خاطر شکنجه وکاروي او يا توقيفيانو سره ناوړه چلند وکړي." همدارنګه د حکومت ځواب په ګوته کوي چې "د يوناما په راپور کې د ځينو پيښو راپور صحيح نه دی البته ځينې انفرادي سرغړونې کيدای شي چې د قضايي او امنيتي ارګانونو د ځينو مامورينو او کارمندانو لخوا شوې وي. د افغانستان حکومت دا مني چې په دې اړوند ځينې ستونزې شته او افغانستان حکومت د شکنجې او ناوړه چلند له منځه وړلو ته ژمن دی او ددې ته هم ژمن دی چې په لوړه کچه د اړونده ارګانونو په همکارۍ د يو ځانګړي پروګرام لپاره يو پلان جوړ کړي چې د افغانستان په توقيف ځايونو کې د داسې پيښو چې د بشري حقونو ارزښتونو ضد دی ، د تکرار مخنيوي وکړي." [81]

د حکومت ځواب د شکنجې له منځه وړلو لپاره تجويز شوي ملي پلان ته اشاره کړې ده چې په دې کې لاندې موارد هم شامل دي: د افغانستان اجرايي او د جزا په قوانينو کې اصلاحات راوستل ، د شکنجې ضد کنوانسيون د اختياري مسودې (پروتوکول) لاس ليک کول ، د ولسمشر د ۱۲۹ ګڼه فرمان تطبيق ، د شکنجې د متضررينو درملنه او د جبران ادا کول او دوي ته د زده کړې او د ضرفيت د لوړتيا لپاره پروګرامونه جوړول ، په عام کلتور کې د شکنجې بې باوري کول ، د مخنيوي هلې ځلې او د تجويز شوي ملي پلان د تطبيق په دوامداره توګه څارل.

يوناما د حکومت د کړې ژمنې هرکلی کوي چې د يو ملي پلان د تطبيق له لارې د توقيفيانو پر وړاندې شکنجه او ناوړه چلند له منځه يوسي. يوناما په خپلې څېړنې بيا ټينګار کوي چې حساب ورکونه په تيره بيا د مسوولو مامورينو او د شکنجې ورکونکي (مرتکبين) څارنوالۍ ته معرفي کول ، د شکنجې له منځه وړلو او مخنيوي لپاره اړين دی او داسې کول به په دې مانا وي چې د افغانستان حکومت له سياسي پلوه په لوړه کچه په دې ژمن دی چې ددوي مامورينو لخوا شکنجې کارول له منځه اوسي.

---

[80] پورتنی ماخذ وګورئ.
[81] پورتنی ماخذ وګورئ.

یوناما د افغانستان حکومت نه غوښتنه کوي چې د حساب ورکونې او د (شکنجې) د مخنیوي د اجرااتو په هکله چې په تجویز شوي ملي پلان کې ورته اشاره شوې، باندې خپله توجه متمرکزه کړې او لومړیتوب ورکړي. د یوناما راپورونو موندنې په متواتر ډول دا ښیي چې د افغان چارواکو/مامورینو د حساب ورکونې نشتوالی او معافیت د شکنجې کارولو او د ناوړه چلند اصلي لامل دی. تر اوسه پورې د شکنجې کارولو لپاره هیڅ ډول پایلې شتون نه لري: د شکنجې مرتکبین څارنوالۍ ته نه معرفي کیږي او ددوي پر خلاف هیڅ ډول تادیبي سزاګانې نه ورکول کیږي. یوازې ټرینینګونه، پلټنې، لارښودنې او د پوهاوی د لوړوالي لپاره پروګرامونه نه شي کولای چې شکنجه له منځه یوسي او مخنیوي یې وکړي: دې ډول هلو ځلو سره باید دقیق حساب ورکونې اجراات مل شي چې په بشپړ ډول شکنجه له منځه ووړل شي.

## مهمې سپارښتنې

د یوناما هغه ۸۲ سپارښتنې چې په تیرو دوو راپورنو کې دافغانستان حکومت، پارلمان، لویې څارنوالۍ دفتر، کورنیو چارو وزارت، ملي امنیت، افغان ملي اردو، سترې محکمې، تمویل کونکو ملکونو، پوځ لیږونکو هیوادونو او ایساف ته شوې وې، له دغه جملې څخه نهه سپارښتنې په مکمل ډول عملي شوې، ۲۸ یې په جزوي ډول او پاتې ۴۱ یی بیښې نه دي عملي شوې.[82]

د دې راپور پینځمه ضمیمه د کال ۲۰۱۱ د اکتوبر میاشتې څخه تر کال ۲۰۱۲ جنورۍ میاشتې پورې د یوناما د ټولو سپارښتنو په اړه د حکومت د اجرااتو ښکارندويي کوي. یوناما یوځل بیا په حکومت غږ کوي چې د هغه ۶۹ سپارښتنو په هکله چې په جزوي ډول عملي شوې یا بیښې نه دي عملي شوي او په افغاني توقیف خونو کې د شکنجې او ناوړه چلند د مخنیوی لپاره دولتي ادراو ته یو عملیاتي پلان برابروي، عملي کړي.

یوناما په دې ټینګار کوي چې افغاني چارواکي باید د افغانستان په توقیف خونو کې د مخنیوی او ختمولو په موخه لاندې سپارښتنې عملي کړي:

### د افغانستان دولت ته:

- یو مستقل نظارتي او د حساب ورکونې میکانیزم چې د مخنیوی د ملي میکانیزم (این پي ایم) په څیر. لکه څنګه چې د شکنجې ضد کنوانسیون په اختیاري مسودې (پروتوکول) وړاندې شوې، جوړ شي. او باید دغه لاندې صلاحیتونه ولري: د دغه میکانیزم لاندې دوي باید په غیر اعلانیه ډول ټول هغه ځایونه چې انسانان د ازادۍ نه پکې محروم دي لیدنه وکړاې شي، خپلواکه عدلي طب ته دې صلاحیت ورکړل شي چې د شکنجې ادعا ګانې تایید کړي. د ملي امنیت او افغان ملي امنیتي ځواکونو په توقیف ځایونو کې دې د شکنجې ادعاګانې په بې پرې او روښانه ډول وڅیړل شي. (دهغه کړنو سره سم چې د استانبول په پروتوکول کې راغلي) او باید دلوی څارنوال دفتر ته او نورو اړونده چارواکو ته د خپلواکو پلټنو لپاره د دوسیو د استولو په شمول د توقیف اړوند چارواکو او نورو ادارو ته په توقیف خونو کې د شکنجې او ناوړه چلند د مخنیوي مؤثرې سپارښتنې برابرې شي.
- باید ټول هغه اړین اقدامات وکړي چې د *شکنجې ضد کنوانسیون او نورو ظلمانه، غیر انساني او تحقیر کونکي چلند او یا سزا* اختیاري مسوده (پروتوکول) لاس لیک او تصویب کړي.
- د توقیف ټول غیر رسمي ځایونه دې مالوم کړ ي او د هغو ځایونو کارول دې ودروئ او بند دې کړي.

[82] د افغانستان سترې محکمې ته شوي یو څلورو سپارښتنو د پلي کیدلو ارزیابي ونه کړی شوه ځکه چې د محکمې لخوا د مالوماتو نشتوالی وو او ددې پرته چې په لیکلي او شفاهي ډول ترې څو وارې غوښتنه شوې وه.

## ستری محکمې ته:

- ابتدایې او استیناف محاکمو قاضیانوته باید هدایت ورکړل شي چې دشکنجې او جبر سره ترلاسه شوې د اعتراف ټولې ادعاګانې په منظمه توګه وڅیړي او داساسي قانون او جزایی اجرااتو قانون پر بنسټ د شکنجې دلارې ترلاسه شوي د اثباتیه شواهدو استعمال منع وګرزوی.

## لویې څارنوالۍ ته:

- د ملي امنیت او افغان ملي پولیسو لخوا دشکنجې او ناوړه چلند کارونی ټولی ادعا ګانې چې د ملي امنیت او ملي پولیسو په توقیف خونو کې ترسره شوې او افغاني چارواکي په کې لاس لري او په دغه راپور کې ذکر شوي دي په خپلواکه ، بې پرې توګه ، په کره ډول او په وخت بررسي کړي.

## د ملي امنیت عمومي ریاست ته:

- د کابل ،کندهار ، فراه او تخار ولایتونو په ټولو توقیف ځایونوکې باید دشکنجې او ناوړه چلند راپورونه وپلټل شي . دا پلټنې باید چې معتبره ، موثره ، او خپلواکه وي. او د ملي امنیت دمسولینو په جرمي کړنو باندې باید متمرکزې وي.
- د ملي امنیت هغه کارکوونکي او د دوي لوړ پوړي چارواکي چې د توقیفیانو په شکنجې مرتکب شوي وي ، په شکنجه یې امر کړی وي او یا د شکنجې په اړه یې بې اعتنایي اختیار کړې وي ، باید نظامي څارنوالۍ او اړونده ادارو ته د معرفی کیدو په شمول مجازات او تادیب شي ، له دندو څخه دې ګوښه شي ، یاهم وظیفه یې تعلیق شی او د تقاعد او نورو امتیازاتو څخه بی برخې شي.

## کورنیو چارو وزارت او افغان ملي پولیسو ته:

- د کندهار ، بغلان ، هرات ، کندز او پکتیکا ولایتونو او نورو ټولو ځایونو کې د ملي پولیسو او سیمه ییزو پولیسو لخوا دشکنجې ټول راپورونه دې وڅیړل شي. داڅیړنی باید چې معتبره ، موثره ، خپلواکه او بشپړې وې.
- ملي پولیسو او سیمه ییزو پولیسو ټول هغه کارکوونکي او آمرین یې چې دتوقیفیانو دشکنجه او امر ورکولو یا د بې پروایي ښودلو مسؤل وګڼل شي باید نظامي/ دافغان ملي پولیسو څارنوالۍ او نورو اړونده ادارو ته معرفي کیدو په شمول مجازات ، تادیب او له دندې څخه ګوښه شي ، یاهم وظیفه یې تعلیق شی او دتقاعد او نورو امتیازاتو څخه بې برخې شي.

## افغان ملي اردو ته:

- د کندهار ، پکتیا ، فراه ، هرات ، خوست ، بادغیس او کابل ولایتونوکې د ملي پولیسو او سیمه ییزو پولیسو لخوا دشکنجې ټول راپورونه دې وڅیړل شي. داڅیړنی باید چې معتبره ، موثره او خپلواکه وي.
- د ملي اردو ټول هغه کارکوونکي چې دشکنجې مسؤلیت ورته راجع شوي تادیب ، نظامي محاکمه او مجازات شي او دهغوي هغه امرین چې د توقیفیانو په شکنجه ، د شکنجې کولو امر یا د بې پروایي ښودلو مسؤل وپیژندل شي ، د دندی تعلیق په ګډون ، د تقاعد امتیاز او نورو امتیازاتو څخه دې بی برخې شي.

**دکورنیو چارو وزارت او د ملي امنیت عمومی ریاست ته:**

- باید هغه پالیسي او هدایات پر مکمل ډول عملي کړی شي کوم چې د ملي امنیت او افغان ملي پولیسو کارمندانو ته صلاحیت ورکوي چې د توقیفیانو سره د شکنجې نه منع شي او د هغوی حقونه ومني ، ورته په احترام قائل شي او ساتنه یې وکړي.
- د شکنجې نه د مصئونیت حق او د ازادۍ څخه د محرومو کسانو سره د انساني کرامت له مخې د چلند حق ( د مدني او سیاسي حقونو بین المللی کنوانسیون د ۷ او ۱۰ مادې پر بنسټ) باید د کورنیو چارو وزارت د بندیانو او توقیفیانو د حقونو د پالیسۍ په متن کې ور زیات شي.
- د پولیسو د امبډ زمن (له دولتي ادارو د خلکود شکایتونو د غور او څېړنې مامور) ځانګې څخه باید سیاسي ملاتړ وشي ترڅو هغه وکولای شي په مؤثره توګه کار وکړي او د وظایفولایحه چې مسؤلیتونه پکې مشخص شوي وي باید امضاء شي.
- د ملي امنیت او کورنیو چارو وزارت په توقیف خونو کې د شکایاتو په شته میکانیزم باندې باید له سره یوه بې طرفه کتنه وشي او دا باید د نړیوالو بشري حقونو په معیارونو ولاړ او توقیف خونو د مسؤلینو نه مستقل وي او محرمیت باید ولري. دغه شکایتونه باید د محابسو مرکزي ادارې ، عدلي ادارو او نورو اړندو ازادو ادارو سره شریک کړی شي.
- د افغانستان ملي نظامي ځواکونو او ملي امنیت کارمندانو ته داسې اساسي ټریننګونه باید برابر شي چې د دوي د پلټنو او تحقیقاتو اړوند ضرورتونو ته ځواب ووایي په ځانګړي توګه دغه ټریننګونه باید د غیر اجباري پلټنو په لارو چارو ، د شکنجې او ناوړه چلند په مخنیوی ، دشکنجې په مقابل کې د جزایی اجرااتو/تأدیبي کړنو او د قاضیانو په هغه مسؤلیتونو چې په ظلم او شکنجې سره اخستل شوي اعترافات لغوه کړي ، متمرکزه وي.

**لویې ځارنوالۍ ، سترې محکمې ، کورنیو چارو وزارت او د ملي امنیت عمومي ریاست ته:**

- راجع کولو داسې یو مؤثر او معیاري سستم باید رامنځته شي چې د توقیفیانو د نیول کیدو یا توقیف خونو ته د لیږدولو سره سم د هغوي مدافع وکیل یا قانوني مرسته کوونکي په وخت خبر شي او د پلټنې پر وخت د توقیفي مدافع وکیل شتون ولري.

**صحت عامي وزارت ، کورنیو چارو وزارت او د ملي امینت لوی ریاست ته:**

- صحې کارمندان چې د توقیف خونو سره تړاو لري د راپور ورکونې په اوسنې بڼه باید بیا کتنه وشي چې دوي وکړای شي چې په ازاده توګه او په بې پرې ډول د مریضانو د لوړو ګټو په نظر کې نیولو سره ددوي د صحت ارزونه په اړین ډول وکړي او هم یې عملي کړي.
- د طب عدلي کارمندانو ته د شکنجې دپیښو د موندلو او مستند کولو او دغه شان د رواني شکنجې پیښې چې د لیدنې وړ زخمونه نه لري ارزیابي کولو په غرض د وړتیا د لوړولو په موخه باید اړین ټریننګونه برابر کړی شي.
- ټول توقیفیان چې کومو توقیف خونو کې ساتل کیږي باید هلته د رسیدو سره سم یې مکمله صحي معاینه ترسره شي.

**مرسته کونکو او هغه هیوادونو ته چې په افغانستان کې پوځونه لري:**

- د افغاني ادارو او اړوند وزارتونو تمویل ، تخنیکي ملاتړ او مرستې باید د افغاني چارواکو له خوا د توقیفیانو سره د شکنجې او ناوړه چلند د استعمال مخنیوی او پدې اړه د مؤثرو اقداماتو ترسره کولو مسئلې پورې وتړل شي او د دغه

مرستو او ملاتړ ورکولو څخه باید د شکنجې او ناوړه چلند د مرتکبینو نه د حساب اخیستنې په برخه کې د پرمختګ شرط څخه باید د یو شاخیص په توګه ګڼه واخیستل شي.[83]

- د ملي امنیت ، افغان ملي پولیسو او د افغان ملي اردو سره هرډول مالي او تخنیکي مرستې ، د ملل متحد د تمویل او د اړوند ادارو او پروګرامونو[84] په ګډون باید د توقیفیانو څخه د نظارت په برخه کې د پرمختګ او په دغه اړه د لازمو اقداماتو په ځانګړې توګه د شکنجې او ناوړه چلند د مخنیوي او د شکنجې څخه د ګټې اخیستنې په صورت کې د مجازاتو او حساب ورکونې مسئلې پورې مشروط کړای شي.

---

[83] د بیلګې په توګه د د امریکا د لیهي قوانین"Leahy Law " او د دفاعي بودجې د اختصاص ماده ((Section 8092 of P.L. 106-259 (2001)) چې امریکا منع کوي چې هغو بهرنیو هیوادونو امنیتي پوځونو ته بودیجه ، ټرینینګ او وسلې ورکړې ، کوم چې د امریکا وزیر کره شواهد ولرې چې اړونده د پوځونو کنډکو له بشري حقونو څخه جدي سرغړونه کړې ده. هغه (وخت بودیجه ، ټرینینګ او وسلې ورکوی شي) کله چې د امریکا یو وزیر دا وپتیي چې د یو هیواد حکومت ددې د حل له پاره کافي اقدامات کوي. د افغانسان حکومت په خلاف کیدای شي د لیهي قوانیون څخه کار واخیستل شي که چیرې د افغانستان د حکومت لخوا د ملي امنیت ، ملی پولیسو او ملي اردو لخوا شکنجه او ناوړه چلند بند نه شي. په دې کې باید د امنیتي ارګانونو د شکنجې مرتکبین هم محکمې ته کش کړای شي. یوناما په دې اند دی چې نوي کلک هوډ ته اړتیا ده چې ورته او کره راپورونو (په شمول ددې راپور موندنو) چې د شکنجې معافیت د ملي امنیت او ملي پولیسو او ملي اردو په کارمندانو او ددوي په ځانګو کې په متواتر ډول شتون لري او د آمریکا د ادارو لخوا ورته ټرینینګ ، مالي مرستې او نورې مرستې ورکول کیږي. تر ۳۰ سپتمبر۲۰۱۴ کال پورې د افغانستان سره د ژغورنې او بیا ودانونې لپاره د آمریکا ټولې مرستې ۱۰۴,۰۸ میلیارده وې چې له هغو څخه تر ۶۰ میلیاردو ډیرې یې د "امنیت" (او نورې درې برخې یې حکومتداری/پرمختیا ، ژغورنه او ملکي کارونو له پاره ځانګړې شوې وې) لپاره ځانګړې شوې وې. په دې کې د افغان ملي ځواکونو بودیجه هم شامله وه چې تر ۳۰ ستمبر ۲۰۱۴ کال پورې یې ۴۸,۹۴ میلیارده ددې لپاره ځانګړې کړې وې چې افغان ملي ځواکونو مجهز کړي ، ټرینینګ او بودیجه ورکړي. د افغان ملي ځواکونو د ۴۸,۹۴ میلیاردو بودیجې څخه ۳۲,۴۰ میلیارد ملي اردو ته ورکړی شوي دي شدی له ۱۶,۱۷ میلیارد افغان ملي پولیسو ته ورکړل شوې دي. د لا ډیرو مالوماتو لپاره د آمریکا درې میاشتنۍ راپور چې په ۳۰ اکتوبر ۲۰۱۴ کې نشر شوی وو، دې لینک کې وګورئ: www.sigar.mil/pdf/quarterlyreports/2014-10-30qr.pdf

[84] د ۲۰۰۲ کال را پدیخوا د **UNDP**د قانون او واکمنی د حاکمیت فنډ د افغانستان لپاره ( **LOTFA-Law and Order Trust Fund for Afghanistan**) چې اساسی موخه یې داده چې د افغانستان د قانون تنفیذونکو ادارو لپاره بین المللي تمویلونکي ملکونه باید وهڅوی تر څو فند ورکړي. د لوتفا ( **LOTFA-Law and Order Trust Fund for**) د 2011 نه تر 2014 کلنو پورې اصلي ډونران آمریکا ، جاپان ، کوریا ، المان ، برتانیا ، ناروې ، هالینډ ، استرالیا او د اروپا ټولنه ده. دغه فنډ باید د پولیسو تنخواګانو د زندانونو د امنیت ساتونوکو معاشونو د پولیسو د روزنې او زیربناوو جوړولو باندې خرځ شي. د ۲۰۱۱ کال د ملګرو ملتونو عمومي سرمنشي د بشري حقونو فعالیتونه پالیسي د ملګرو ملتونو د ملاتړ د غیر ملګرو ملتونو امنیتي قواو لپاره د حقوق بشر پرمختګ او ودې لپاره اصول او اقدامات په ګوته کړي دي البته دغه ملاتړ او اقدامات باید د ملګرو ملتونو مسولیتونو سره هماهنګ وي چې نړیواله بشر دوستانه حقونه او مهاجرینو قوانینو ودې او احترام لپاره لاره هواره شي. ددې مسولیتونو سره متوازن د ملګرو ملتونو ملاتړ هغه چاته نه شی حاصلیدلی چې د نړیوالې بشردوستانه ، بشري حقونو او د مهاجرینوقوانینو په جدي سر غړونو کې دخیل وي او یا هغه حکومتونه د بشر حقونو د جدي سرغړونو د مخنیوي په اړوند اجراات ونکړی. همدا رنګه که چیرته د ملګري ملتونه داسې باوري مالومات ترلاسه کړي چې امداد اخیستونکي ملک د نړیواله بشر دوستانه ، حقوق بشر او د مهاجرینو د قوانینو په سر غړونو کې په داسی حال کې چی د ملګرو ملتونو هغه ادارې چی دغه مرستې یې برابره وي ، باید د هغه هیواد نه جدي غوښتنه وکړي چې د ذکر شوي سرغړونې بند کړی.